«مرابطون» تلتتي: حقاني



دخداي په فضل اوس دمجاهدينو قواوي په گرديز کي نظرخوست ته څوچنده زياتي او پياوړی شويدي . موږبه دخوست دلارو نه داستفادي قدر دنورو ځايونو په فتح کي هيرنه کړو

«الحاج حقاني»

منبع الجهاد

علمي،جهادي مياشتنی خيرونه

دوهم کال دولسمه گڼه ، د ۱۳۷۰ هـ ش کال جوزا

احمدشاه ((اوریا)) وحدت يار
Ahmad Shah Vahdat Yar



په اسلامي اصولو برابر حکومت جوړول زموږ دمسلمان ملت دجهاد وروستی هدف دی .





الهي فرمان

اي هغوکسانو چي ايمان موراوړی دی مه نيسی په
دوستی سره پلاران او وروڼه ستاسی ، که چيرته
دوي خوښ وي په کفرباندی ، دايمان راوړلو په
نسبت. که تاسو نه چادوي په دوستی ونيول،هغه
به زيانکاران وي .

دالتوبه سورة ۲۳ ايت

کمپوزر: احمد ضيا«ذهين بابري »

منبع الجهاد

علمي ، جهادي میاشتنی خپرونه

مؤسس: الحاج مولانا جلال الدین «حقاني»

دتأسیس کال: ۱۳۶۸هـ ش ، ۱۴۰۹هـ ق

دوهم کال ، دولسمه گڼه ، د۱۳۷۰ هـ ش جوزا ، د۱۴۱۱ هـ ق ذي القعدة د۱۹۹۱م ، جون

دهیئت تحریر ترنظر لاندی

په دي گڼه کی

شمیر	عنوان	مخ
۱:-	(سرمقاله)	(۲)
۲:-	مجاهدین چرا رژیم نجیب ...	(۵)
۳:-	یوه جفا، یو تیري .	(۹)
٤:-	دیرش کاله وروسته په البانیا ...	(۱۲)
٥:-	تاریخ ، تیوري واعمال ...	(۱۵)
٦:-	دافغانستان دقضیي دحل...	(۱۹)
۷:-	عقلءکامل هدایت نه دي.	(۲۲)
۸:-	کمونیزم یادتکامل اوانساني...	(۲۷)
۹:-	مجاهدین په پوځي لحاظ ...(مرکه)	(۳۰)
۱۰:-	داسلام په اړه دصلیبیانو...	(۳۷)
۱۱:-	جهادي ادب	(٤۰)
۱۲:-	په چوپه خوله ...(تکل)	(٤۱)
۱۳:-	ولسي ادبیات	(٤۳)
۱٤:-	انصارشاعران	(٤۷)
۱٥:-	دغرونو اور(دکتاب معرفي)	(٥۳)
۱٦:-	حوادث داغ جهان ...	(٥٦)
۱۷:-	ابدي ژوندي	(٦۱)

مکاتباتي پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)

یونیورسټي ټاون - پیښور

دټیلفون نمبر : (۸۱۲۲٥۱)

بانکي پته

حبیب بانك ، دصدر رود څانگه

دحساب نمبر: ۲۰٥٥۹ پیښــور- پاکستان

Ahmad Shah Vahdat Yar

بسم الله الرحمن الرحیم

منبع الجهاد

په اسلامي اصولو برابر حکومت جوړول زموږ دملت دجهاد وروستی هدف دی

دملګرو ملتوںسرمنشي هاوېرپرېزدیکویار لخوا دافغانستان دمسلې دحل په اړه دیوه پنځه ماده ایزوړاندیز سره جوخت په سیاسي ډګرکي دافغانستان دمسالي دحل په ارتباط یواړ جدی فعالیتونه رامنځ ته شويدی ددغو فعالیتونو یو ډګر په پاکستان کي دمهاجرو او مجاهدینو ټولنه ده چي دملګرو ملتونو دسرمنشي دوړاندیز سره جوخت دهغوپه منځ کي سیاسي فعالیتونه یو ځل بیا توند شول .

دافغانستان جګړي ته دپای ته رسولو په خاطر ددیکویار وړاندیز دافغانستان دجهادي تنظیمونو اونورو سیاستمدارانو له خوا په بیلابیلو وجوهاتو ارزیابي شويدی خوټولو دهغه خلاوتشي په ارتباط خپل تشویش بیا بیا څرګند کړیدی کوم چي دملګرو ملتوںسرمنشي دوړاندیز مطابق له کمونستانو څخه یو انتخابي حکومت ته دقدرت دانتقال په دوران کي واکي به په لاس کي واخلي .

افغان مجاهدینو چي دیارلس کاله دروس اودکابل کمونستانو ناروا لکي پر ضد جهاد کړیدی داخطر احساسوي چي مبادا ددغي طرحي څخه په کار اخستلو سره کمونستان بیا په قدرت قبضه وکړي او په انتقالي دوره کي به هم په چل ول اوبین المللي سازش له لاري همغسي واکي په لاس کي ونیسي.له همدي امله دټولو جهادي تنظیمونو مشرانو او جهادي قوماندانانو تل

دمسالي دهرېول حل په څنګ کې دکمونستانو دقدرت او واکي له ادامې سره خپل تینګ مخالفت څرګند کړیدی البته داپدې معنانده لکه څنګه چې دکابل رژیم یې په غلطه تبلیغ کوي چې ګنې مجاهدین دمسالي حل نه غواړي .

افغان مجاهدینو او مهاجرینو چې دیارلس کاله یې دکمونستي رژیم له لاسه پیرې سختې ورځې تیرې کړیدې غواړي خپل هیواد دیارلس کلن جهاد په پای کې دکمونستانو دغو دکرملین نوکرانو له ولکې څخه خلاص ازاد ووینې .

افغان مجاهدین او مهاجرین چې پیرې قرباني یې دخپل وطن ازادي اواسلام له پاره ورکړې قانونا حق لرې چې دخپلې خاورې دسرنوشت په اړه خپل نظریات او غوښتني وړاندې او دنورو غوږ ته یې ورسوي ، زموږ هدف هم دادي چې په افغانستان کې دافغانستان دمسلمانو اکثریتو خلکو په خوښه یو حکومت چې هغه واقعاً زموږ دخلکو دیني او مذهبي او ملي احساساتو او غوښتنو نماینده کې وکړې رامنځته شي اودازموږ دجهاد اصلي هدف اومرام وو او دی .

ترکومه حده چې دمجاهدینو او مهاجرینو په منځ کې دافغانستان دمسالي دحل په اړه سیاسي تماسونه اوفعالیتونه توند شویدي له هغه سره موازي روسانو دکابل په کمونستو واکدارانو هم فشار راوړي ترڅو خپل پخواني او اساسي اختلافات یوې خواته پرېږدي اوسره متحد او یو موټی شي.له همدې امله دی چې ببرك کارمل دغه شاه شجاع ثاني روسانو بیرته کابل ته لیږلی ترڅو دنجیب حکومت سره کیني اوهغه فشار ته چې دمجاهدینو او نړیوالو له خوا وړاندې واردیږي په ګډه اوږه ورکړي .

له دې تمثیل اوتحمیلي اتحاد څخه دروسانو هدف دادي پداسي حال کې چې دافغانستان دمسالي دحل لپاره بین المللي فشار اوغوښتنه زیاته شویده دکمونستانو تیت اوپرك خواوې په راغونډولو سره داسي وښئي چې په کابل کې دکمونستانو دغه دمسکو دپلویانو یوه متحده پله دحکومت په ګډې ناسته ده چې باید دافغانستان دمسلې دهرېول حل په جریان کې په پام کې ونیول شي .

نجیب دروسانو دلارښوونې سره سم تل داویلي چې قدرت به په اسانه بل چاته پرینیږدي اوغواړي دهرېول حل په صورت کې هم دیو انتخابي حکومت ترمنځ ته راتګه پورې دقدرت واکې په لاس کې ولري .

نو همداوجه ده چې جهادي قوتونه له يوې خوا دکابل رژيم درئيس دخبرونو اوبلې خوا دانتقالي دورې په اړه دنوې پيشنهاد دجزئياتو دنه وضاحت له امله دااندېښنه لري ته چې په نړيواله سطحه دمجاهدينو اومهاجرينو پرضد کومه توطئه په لاره وي .

په قدرت کې له نجيب سره دمجاهدينو دنه اشتراك دلايل واضح او قناعت بښونکي دي نجيب او دنوې خلق پرچم ډلې دافغانستان دروانو کړاونو باعث دي اوهمداوطن پلوروونکي ډلې ددې سبب شويدي چې زموږ يو نيم مليون وطنوال شهيدان اووطن مو په کنډواله بدل شي .

ترکومه حده چې دملګرو ملتو دسرمنشي هاويرپريزديکويار دپيشنهاد په اړه ليدل کيږي دغه وړانديز ډېرو نړيوالو موسسو او سياستمدارانوپه پرنسيپ کې منلي اودهغه پلوي يې کړيده او حتى هغه کسان چې په دوامدار ډول دافغانستان دمسلې ملاتړيې کړيدي هم په دوو مخالفو او موافقو ډلو ويشلي دي نو دافغانستان دمسالې دپيچلتيا او دافغانستان دستونزې دخوږېتوب اودافغانستان دخلکو دبې شميره قربانيو په رڼا کې لازمه ده جهادي قوتونه دملګرو ملتودسرمنشي پيشنهاد دقيقاً مطالعه اوهغه ته دافغانستان دمسلمانوخلکو او وطن داسلامي اوملي ګټو په پام کې نيولوسره ځواب ورکړي .

جهادي قيادت ته لازمه ده دوخت دحساسيت په پام کې نيولو سره خپل منځي اختلافات يوې خواته پرېږدي اوترڅو زيات داسلامي وروري په فضا کې سره يو ځاى متحداً ددغه مهم وړانديز په وړاندې متحد او مشترك موقف اوتصميم ونيسي که نه دجهادي قوتونو په اوږو به دملامتي پره واچوي .

لازمه داښکاري چې جنګ او سياست دواړه په ډګروړګډ شي اودافغانستان دپنځه مليونو بې کورو او مهاجرو اويو نيم مليون شهيدانو ارمان او هيلو مطابق داسې ګټور او معقول تصميم ونيول شي چې هم زموږ ټول ارمان پوره شي اوهم په معقوله او مناسبه طريقه دافغانستان مسالې له دحل لاره پيداشي خودابايد له ياده ونباسو چې دسياسي امتيازاتو دلاس ته راوړلو لپاره نظامي برلاسي اوبرى خورا مهمه او باارزسته ده او همداډول برلاسى دي چې سياسي برلاسي تضمينولاى شي .

ومن الله التوفيق

مجاهدین چرا رژیم نجیب را رد میکنند؟

سمیع الله « تازه »

سیاسی تبصره

رژیم کابل همیشه با استفاده از اندکترین زمینه وامکان تبلیغاتی پروپاکند بی سروپابراه انداخته سخت کوشش میکند تا چهره خود رابه جهانیان صلح خواه جلوه دهد وازطرفی نیز بابراه انداختن میتنگ ها درمکاتب موسسات وکوچه وبازار مردم نواحی تحت اشغال خویشرا مصروف نگهداشته تلاش بخرچ میدهد که درنزد انها نیز خود را بحیث طرفدار صلح ذهن نشین نماید درپشت تمام این تلاش های رژیم انچه نهفته میباشد اینست که رژیم باین چنین کردار اواداهای محیلانه میخواهد مجاهدین رابحیث نیروهای جنگ طلب و ضد صلح وارامش درکشور معرفی نماید .

این درست است که مجاهدین ومهاجرین تمام ان طرحهای راکه هدف ظاهری وپنهانی ان حمایت و یاکمك سیاسی به نجیب ورژیمش باشد رد کرده ومی کنند اما بیائید ببینیم که چرا مجاهدین ومهاجرین نجیب ورژیم اورا نیز یکسره رد می کنند ونمی خواهند که درحل مساله افغانستان سهیم باشند.

ایااینها حق ندارند که چنین کنند؟

نجیب ورژیم او نمایندگی ازیك دوره سیاه تاریخ معاصر افغانستان رامی نمایند یابه عباره دیگر نجیب ورژیم اوزاده یك دوره نکبت بار امیخته با اشغالگری روسها درافغانستان میباشد.

کمونست های داخلی بابراه اندازی کودتاسیاه ثور ۱۳۵۷ که باتبانی با کمونیزم روس خلاف تمام موازین اسلامی وملی کشورومردم ماعملی گردید موجب مرگ وویرانی بیشمار گردیدند این کمونست هابودند که موجب مرگ یك ونیم ملیون افغان وتباهی باارزش ترین غنای مادی ومعنوی کشور ما شدند تمام تاسیسات صنعتی ، زراعتی، مکاتب ومواصلاتی درنتیجه بمباردمانهای وحشیانه انهانابود گردید.

انسانهای باخداوعالم به جرم خداپرستی به پولیگون مرگ فرستاده شدند اشخاص بادانش واگاه بدون هیچگونه گناه براساس

عقده بیرحمانه لت وکوب وشدیدا توهین وتحقیر وبالاخره فجیعانه شهید ساخته شدند .

کمونست هابخاطر اینکه تمام صداهای مخالفت راخاموش نموده وبرجمجمه های هموطنان خود حکومت میان تهی به اصطلاح (طبقه کارگر) رااعمارنمایند تمام قراودهات راتحت بمباردمان ازهوا وزمین قرارداده هزاران هزار هموطن مظلوم مارا ددمنشانه شهید ساختند .

کمونست ها باوجود تمام این بیرحمی ها دلشان علیه هموطنان مایخ نشده از بادار وحشی خود یعنی روس دعوت کردند تا درکشتار جمعی وبیرحمانه هموطنان و ویرانی افغانستان باانها همکاری نماید .

روسها نیز باقوای وحشی ۱۵۰ هزار تنی خود باپلان وسیع ویرانگری بکشور ما هجوم اوردند وهرانچه راکه کمونست های کابل از تعمیل ان عاجز امده بودند بخاطر منکوب ان کمربستند .

روسها درمدت اشغالگری خود تمام دهات رابخاطر محواساسی وبنیادی حیات مردم وکوچ جبری به کشورهای همسایه بدون تفکیك بمباران نموده باخاك یکسان نمودند به دهها صدها هموطن مسلمان مارا جمعی کشتارنمودند ودرکنار این وحشت بخاطر بستن افغانستان با کشورروس بصورت

امپراطوری خونین کمونیزم درجهان بود .روسها بخاطر تحکیم اشغالگری شان درافغانستان برعلاوه کشتار وویرانی بی حد وحصر بخاطر چوروچپاول منابع اقتصادی وطبیعی وفقیر ساختن هرچه بیشتر افغانستان عملا دست

> *روسها درمدت اشغالگری خود تمام دهات رابخاطر محواساسی وبنیادی حیات مردم وکوچ جبری به کشورهای همسایه بدون تفکیك بمباران نموده باخاك یکسان نمودند به دهها صدها هموطن مسلمان مارا جمعی کشتارنمودند ودرکنار این وحشت بخاطر بستن افغانستان با کشورروس بصورت دایمی پلان های خطرناك دیگری چون درساحه اقتصاد منابع طبیعی وسایر بخش ها نیز رویدست گرفته شد*

دایمی پلان های خطرناك دیگری چون درساحه اقتصاد منابع طبیعی وسایر بخش ها نیز رویدست گرفته شد .

هر اشغالگری درجنب اهداف نظامی سیاسی اهداف اقتصادی رانیز دارامیباشد ، هدف از اشغالگری وهجوم روس به افغانستان همانا ضمیمه ساختن افغانستان به کشور روس ودسترسی به ابهای گرم وتوسعه

بکار شدند .

بخاطر استخراج وانتقال منابع غنی مس عینك لوگر روسها تلاش کردند تا ازروسیه برق تمدید نمایند وبخاطر ان به ارزش ملیونها دالر وسایل وسامان الات رابر رژیم کمونستی تحمیل نمودند .

همچنان بخاطر اعمار پروژه های که ساحات ان تحت تسلط مجاهدین میباشد نیز مشاورین

روسی کمونست های وطنفروش رژیم راوادار نمودند تاسامان الات تخنیکی جهت اعمار مجدد پروژه های مذکور را خریداری نمایند که ازهمین مدرك نیز به ارزش ملیونها دالر قرار دادبدون ضرورت به امضا رسیده است .

اگر از جزئیات بگذریم روسها به ارزش ملیونها وملیاردها دالر قرار داد اضافی وبلاضرورت رابر رژیم گوش فرمان روس درکابل تحمیل نموده اند که هیچگاه به نفع اقتصادی وسیاسی کشورو مردم مانبوده و نیست . درپشت تمام انها اهداف شوم اقتصادی وسیاسی دوررس روس نهفته است مثلا رژیم کابل حاضر شده است برای دهها سال گاز سمت شمال کشوررا بمقایسه قیمت گازدرتمام جهان به قیمت تقریبا هیچ بروس بفروشد ویا رژیم کمونست وطنفروش درهنگام زمامداری ببرك وطنفروش جهت استفاده ویابقول عده بخاطر فروش گردنه واخان قرارداد امضانموده است که اینها همه نمونه وطنفروشی کمونست ها ودارای نتایج بسیار بسیار منفی به اینده سیاسی نظامی واقتصادی واجتماعی افغانستان میباشد .

بدبختی بزرگتررژیم این نیز است که بزور توپ وتانك وطیاره روس برمردم ماتحمیل شده است لذا به هیچوجه این رژیم نمیتواند نماینده مردم کشور ما باشد ویاازمردم وکشورما نماینده گی نماید .

جان سخن درینجاست که اگر مجاهدین ومهاجرین با رژیم نجیب به میز مذاکره نشینند ویادرحکومت اینده مجاهدین رژیم نجیب سهیم گردد ازنگاه قانون بین الدول این بدان معنی است که نیروهای جهادی رژیم کمونست کابل رابرسمیت شناخته اند که درین صورت حکومت اینده افغانستان باوجودیکه یك ونیم ملیون شهید برای ازادی خود داده وویرانگری سختی رامتحمل شده است بازهم ناچار خواهد بود بارتمام ان قرار دادهای خائینانه وطنفروشانه که کمونست های لعین تحت فشار مستقیم روسها برضد منافع ملی افغانستان به امضا رسانیده اند بدوش کشد ، انگاه کس نمیتواند ادعاکند که روسها باید تاوان خرابیهاوویرانی بی پایان وطن مارابدهند انگاه کس نمیتواند ادعا نماید که روسها باید تاوان وتفاوت ان مقدار گازرابدهند که از سمت شمال کشورما تااکنون به تاراج برده اند وانگاه کس نمیتواند بگوید که تمام قرار داد های که ازطرف کمونست ها امضاشده خلاف منافع ملی کشور میباشد وبرای ماقابل قبول نیست .انگاه برای

حکومت اینده افغانستان واقعا یك کشور فقیرجنگ زده دست وپابسته باقرار داد های نامشروع روس باقی خواهد ماند .

لذا رد حکومت نجیب ونظام کمونستی کابل علاوه ازاینکه بحیث دست نشانده روس جدی ومهم است ازنگاه حیات سیاسی واقتصادی اینده کشورنیز جدا مطرح میباشد.

پذیرش رژیم کمونست کابل درحل مساله افغانستان ازنگاه سیاسی به معنی (خداناخواسته) تائید تمام جنایات کمونست هاي رژیم کابل وتجاوزگران روس علیه کشورومردم مانیز خواهد بود بناء مذاکره بارژیم کمونست کابل ویا تقبل ان درحل مساله افغانستان نه تنها برای داعیه جهاد بلکه برای اینده سیاسی نظامی اقتصادی واجتماعی کشورومردم ما نیز سخت زیانبارمیباشد .

لذا مجاهدین بادرك این مساله حاضر نیستند خون يك ونیم ملیون شهید خود را نادیده گرفته وویرانی کلبه و مزارع ملیونها هموطن مارا (صدقه) سازش

اگر مجاهدین ومهاجرین با رژیم نجیب به میز مذاکره نشینند ویادرحکومت اینده مجاهدین رژیم نجیب سهیم گردد ازنگاه قانون بین الدول این بدان معنی است که نیروهای جهادی رژیم کمونست کابل رابرسمیت شناخته اند که درین صورت حکومت اینده افغانستان باوجودیکه يك ونیم ملیون شهید برای ازادی خود داده وویرانگری سختی رامتحمل شده است بازهم ناچار خواهد بود بارتمام ان قرار دادهای خائنانه وطنفروشانه که کمونست های لعین تحت فشار مستقیم روسها برضد منافع ملی افغانستان به امضا رسانیده اند بدوش کشند

سراسر زیانبار نمایند.

حل پرابلم های سیاسی نظامی پیچیده چون مساله افغانستان مستلزم دقت توجه وهوشیاری سیاسی بوده درگام نخست برای کسب حقوق وامتیازات لازمست امتیازات نظامی باید داشت ، درمیز مذاکره دلیل وبرهان قاطع ارائه باید کرد ، چانه باید زد مقاومت مثبت باید کرد تاحقوق بدست اید .

چون درمساله افغانستان حق نه یکی است بلکه خونبها وگرانهای ملیونها ملیون هموطن ما میباشد که شهید داده اند زجرومشقات مهاجرت را متقبل شده اند خانه وکاشانه ومزارع خود را از کف داده اند .

صلح خواست هر افغان بوده امانه به این طرزکه با قاتل یکجا برنعش عزیز مقتول خود بگرئیم .

لذا درحل قضیه افغانستان چنان يك خطر بزرگ موجود است که باید باان از همین اکنون توجه نمود ونباید بااندکترین اشتباه وخبط سیاسی به همه جنایات ووحشت وبربریت کمونست های کابل وروسها که علیه مردم وکشورما انجام داده اند ناآگاهانه مهر تائید وصحت گذاشت وتمام قربانیها وجان نثاری های ملت خفته بخون رابربیاد فناداد .

یوه جفا یو تیری

محمد نذیر « بشارت »

له ډیری مودی راهیسی دیوه بدتمایل اوناوړه گرایش شاهدان یو ، داتمایل او گرایش دخلق دوحشی گوند او دهغوی دبدنام رژیم په برخه کی دنرمښت سیاست دی .

متاسفانه اوس ددی سیاست نښی زموږ په هیواد کی دځینو قوتونو له مواضعو اوڅرگندونو څخه معلومیږی .

بهرچی زموږ له داعیی دملاتړ اوپه افغانستان کی دروسانو او کمونستانو دحضور دخلاف کوم سیاستونه اعمالیدل ، هغوی زیاترو مشخص اهداف اوگټی درلودی ، اوس یی یا گټی ترسره شوی دی یابدلی شوی دی اویایی په نورو لارو اوروشونو دترلاسه کولو زیار باسی ، له دی امله یی دخپلو مواضعو دبدلولو لارنیولی ده .

خودالوری دخپل سیاست دبدلون لپاره هیڅ قانونی ، حقوقی اواخلاقی جواز نه لری .

زموږ دهیواد حالت داسی دی چی اوس هم یوه مزدوره اوجنایتکاره ډله دروسیی دباروتو او گولیو په زور غواړی ځان زموږ پر مظلوم ملت وتپی ، اوس هم دیوه فاجعه زیږوونکی باند داقتدار لپاره زموږ په وطن کی دجگړی ویرجنی لمبی اوچتی دی ، پنځه ملیونه وطنوال موبی کوره اوبی تیکی دی ، د هیواد په خاوره کی مودپردیو ټانکونو غوبل دی اوپه هواکی یی دهغو الوتکواو سکډ توغندیو غرمبهاراو ړنګو کاردی چی پدی «گناه» مسلمان افغان کور له خاورو سره سموی چی غواړی له خپلی نظریی او ازادی سره سم دخپل وطن خاوند شی .

زموږ ملت یواځی ددی لپاره چی غوښتل یی دچاغلامی ونکړی اوپه خپله خاوره کی هغسی ژوند وکړی چی ددوی عقیده او غوښتنی یی ایجابوی پوره څوارلس کاله یوی خوفناکی جگړی ته مجبورکړای شو، څوارلس کاله دخپل تن اووینو په بیه له اور او اوسپنی سره لوبوته اړایستل شو ددی څوارلس کلونو هره شیبه ورته فاجعه ، ویر ، غم ، ژوبله ، هجران اومرگ ؤ ، دهیواد قدم قدم یی دوینو ړنهونه وو، پل په پل ورته دمینونو ډیری وی ، دوطن ټوله فضا یی دوحشتناکو فاجعو او زړه ریږدوونکو حادثو دمقابلو غبار نیولی وه ، وخت په وخت پری دمحشر صحنی وی چی تلی راتلی داټول دڅه لپاره ؟

ددی لپاره چی زموږ محرومو خلکو فقط دومره ویل چی موږ ازاد قوم یو ، خپله عقیده اونظریه لرو اوخپله مو خاوره ده ، موږ دی خپل مستقل ژوند ته پریښودل شو، څوک رابانددی ددی حق نلری چی غاړو ته مودغلامی غړواندی راواچوی –

بس همدومره خبره وه چی دخلق گوند بی حیاکمونستانو اودهغوی سړیخوړو بادارانو په« توهین» ، «زندان» او «مرگ » ځواب ورکړ، اود«برچی» ، «غرغری» ، گولی اوبم په منطق اودتحقیر اوقتل عام په ژبه یی خبره ورغبرگه کړه ، خبره یی دی ته راورسوله چی شپاړس لکه مسلمان وطنوال مودخپل تن په وینو ولمبیدل ، وطن مو لوټه ، لوټه شو ، او تر اوسه لا پته نشته چی څومره فاجعو او څومره سانحو به دزمانی په پیچومیو او کړنگونو کی لار نیولی وی . اوغواړی به دبی وسی ، او مظلومیت په جرم مو په قوم اووطن میچنی وچلوی، لایی ځپ ، ځپ کړی اوپدی نیت به چی داداحرارو ټولگی او دزمرو کورکی بیادکوم کبرجن داورمیږتاوولو او دکوم داړه مار غاښ ماتولو ته سرراجگ نکړای شی ، تری کساتونه واخلی نوچی زموږ دملت دمبارزی دغه ماهیت وی اودغه یی هدف اویو څوك په دی بنسټ اوعنوان ورسره ملاتړ اعلانوی چی په وطن یی یرغل شوی ، دپردیو مزدوره پله پری تپله کیږی ، استقلال یی ختم شوی ، دخپل سرنوشت دټاکلو حق تری غضب شوی ، ملی حاکمیت اوملی اراده

یی تهدید شوی ده ، قتل عام شوی اودخپل تاتوبی پریښودو ته مجبورشوی دی . بیابه دخپل سیاست دبدلولو لپاره څه توجیه اودلیل ولری ؟ ایا اوس هم په کابل

کی هغه بدنام او جنایتکار گوند واکمن ندی چی زموږ دملت ددی ټولو روانسوزو مصیبتونو اوکړاوونو مسؤل دی ؟ ایا جانی اوبی شرافته نجیب دهمدی گوند مشرندی ؟ ایا داگوند دافغان ولس دوحشیانه قتل عام مسؤل ندی ؟ ایا ددی گوند دحکومت موجودیت دروسیی دارادې مظهر اودهغوی دیرغل او زور محصول ندی ؟ ایا ددی گوند دحکومت بقا دافغانستان داستقلال ملی حاکمیت اوخود ارادیت دحق مطلق نفی کول ندی ؟

ایا دنجیب دکرغیړن رژیم ادامه دافغان میړنی قام دڅوارلس کلنی بی پروا مبارزی اوعادلانه مقاومت توهین او ددی ملت دارادی اوهدف تحقیرندی ؟ زه مطمین یم چی دپاس ټولو پوښتنو ځواب مثبت دی ، چی ځواب مثبت وی ، باید ووایو

> زموږ ملت یواځي ددي لپاره چي غوښتل يي دچاغلامي ونكړي اوپه خپله خاوره كي هغسي ژوند وكړي چي ددوي عقيده او غوښتني يي ايجابوي پوره څوارلس كاله يوي خوفناكي جگړي ته مجبوركړاي شو څوارلس كاله دخپل تن اووينو په بيه له اور او اوسپني سره لوبوته اړايستل شو



ډیره دردوونکي داده چې زموږ دځینو خپلو قوتونو په څرګندونواوسیاستونو کې دنرمښت تمایل بریښي ، داډول سیاست چې څومره هم وغندل شي کم دي

چې ټول هغه قوتونه چې ترپرونه یې دافغان قضیې او مقاومت دملاتړخبرې کولې اونن دجانی او فاجعه کار نجیب درژیم په برخه کې دنرمښت سیاست اعمالوی ، له حق اوعدالت سره جفا کوی او زموږ دمظلوم ملت دداعیې اوارمان دحقانیت او معقولیت په حریمونو تیری کوی .

داخو دپردیو اوبهرنیو لوریو ددریځونو خبره وه، ډیره دردوونکې داده چې زموږ دځینو خپلو قوتونو په څرګندونواوسیاستونو کې دنرمښت تمایل بریښی ، داډول سیاست چې څومره هم وغندل شی کم دی ، نور که له نجیب او دکابل له کمونست حکومت سره برخورد او معامله په هر«پرنسیپ» او « تعامل» عیاروی خو زموږ دملت دموضع اوبرخورد ماهیت ورسره کاملاً مشخص اوروښانه دی ، هغه زموږ دملت دعقیدی پرخلاف جګړه اعلان کړی ، دهیواد استقلال اوخاوره یې پلورلی ، په پردیو لښکر او وسلو یې زموږ وطن لوټه لوټه کړی په لکونو مسلمان یې قتل عام کړی ، داڅوارلس کاله یې بې ګناه زموږ مسلمان وطنوال دهیټتاکی جګړی په نغری ترکولی له همدی امله ده چې له نجیب او دهغه له کمونست حکومت سره زموږ معامله دمعمولو سیاسی اودیپلوماتیکی چوکاټونو اوتعاملونو نه په بشپړه توګه بدله ده

له هغه سره تردی په راکم شی معامله کول چې په هیڅ توګه یو سیاسی قوت ندی ، مطلقاً خاین اوجانی طرف دی ، اوباید بی قید وشرطه دله اقتداره لاس واخلی ، په خپلو کړو وړو پښیمانه شی او دملت لمنی ته ځان وسپاری لویه جفا اولوی خیانت دی که له دی روحیی پرته په بل کیفیت یی په وړاندی موضع اوسیاست غوره کوو یعنی دسازش او نرمښت په کیفیت اصلاً دخپل ملت د څوارلس کلنی مبارزی حقانیت او داعیه تر پوښتنی لاندی واقع کوو ، اوداخو په هیڅ توګه له دی پرته چې دافغان مجاهد قوم ددی ټول مقاومت کړاوونو او قربانیو څرګند توهین وګڼو بل شی نشو بللای .

دیرش کاله وروسته په البانیاکی د محمدی (ص) اذان انګازی خپری شوی

ژباړه : سیدشهریار

دکاناډا څخه داسلامی تحریک خپریدونکی انګریزی اونیزی (کرینسټ انټرنیشنل) پخپله یوه ګڼه کی یو په زړه پوری خبر خپورکړی دی دخبرسره سم دالبانیا په فضا کی تقریباً (۳۰) کاله وروسته لمانځه ته دمسلمانانو درابللو لپاره محمدی (ص) اذان واوریدل شو دیرش کاله مخکی کله چی پخوانی دکتاتور (انور خواجه) په البانیا کی ټول جوماتونه دلمونځ کوونکو په مخ وتړل اودهمدغه دکتاتور په امر سره ټولی مذهبی اداری په ۱۹۶۷ م کال کی بندی کړای شوی.

انور خواجه اعلان وکړ چی البانیا دټولو څخه لومړی بی دینه اوبی خدایه مملکت دی ددی ترڅنګه یی دااعلان هم وکړ چی مذهبی عبادات دسزا وړجرایم دی حال داچی تردوهم نړیوال جنګ پوری البانیا یو اسلامی هیواد وُچی اخرنی مسلمان حکمران یی (لومړی زوګ) نومیده .

البانیا ته ترننه پوری داویاړ او مقام حاصل دی چی په اروپا کی یواځینی اسلامی هیواد دی چی په ۳،۲ ملیونه نفوس کی یی ۷۰ فیصده مسلمانان اوپاتی نوریی دنورو مذاهبو پیروان دی.البانیا (۱۵۰۱) م کال کی دترکیی عثمانی دولت وننیولاوتر (۱۹۱۲) م کال پوری دهغه دولت یوه برخه وه اوتقریباً څلورنیمو پیړیو کی داسلام مبارک دین ډیرو خلکو ومانه ، عثمانی دولت په ۱۹۱۲ م کال داروپایی کانفرانس په جریان کی دالبانیا خپلواکی ومنله! دتیرکال دمی په میاشت کی چی کله دالبانیا پارلمان تریوځه حده پوری دقانونی، عدالتی اوداقتصادی ازادیو منظوری ورکړه نوددی ترڅنګ یی دډیری کمی درجی اوتاکل شوی حدً پوری مذهبی ازادی هم اعلان کړه :

څه ښه وایی :(دتېری لپاره دپرښی یوڅو څاځکی هم دارو دی) دمحدودی مذهبی ازادی له بهانی څخه یوه پاکستانی تبلیغی جماعت هم فایده پورته کړه اوبالاخره ورته په تیر اکتوبر کی فقط دیوولسو ورځو لپاره په البانیا کی دقدم کیښودو اجازه ورکړای شوه .

په دغو یوولسو ورځو کی تبلیغی جماعت ته له دولتی ځند او خند څخه پرته په یو څو جوماتونو کی دلمونځ کولو سعادت وربه برخه شودغه لنډه اوتنګه مذهبی ازادی پدی خبره دلالت کوی چی شاید همدغه ازادی به داروپا له دغه وړتړلی هیواد البانیا څخه دفاشیزم ناولی جرړی وباسی اوپرځای به یی داسلام دسپیڅلی دین شنلی رازرغون شی.

په نوموړی تبلیغی جماعت کی پنځه تنه شامل ووچی ددوی له جملی څخه یو وکیل یوډاکتر اویو هم دمکتب یوښوونکی وُ .

ددعوت او تبلیغ دمقاصدو دپوره کولو لپاره دغه جماعت په جنوبی اروپا کی دیونان ، یوګوسلاویا ، اودځنو نورو هیوادونو په سفر تللی ؤ.

دیادولو وړخبره خوداده چی دالبانیا ددکتاتور انور خواجه دظلم او استبداد لمردڅلویښت کاله

واکمني وروسته په ۱۹۸۵ م کال کی دده په مرگ سره دتل لپاره ړوب شو خودمسلمانانو سره دزور زیاتی اودبی رحمی په رویه کی ترننه پوری څه بنه والی او نرموالی ندی راغلی اودغه ترخه خاطرات تراوسه پوری په البانیا کی موجودی که څه هم جمهور رئیس (رامیزعالیا) څوک چی دانورخواجه جانشین هم دی ددغه پخوانی ورتړلی هیواد دروازی دبهرنیو تاجرانو ژورنالستانو اودسیاحانو لپاره پرانستی خودمذهبی مشرانو لپاره دالبانیی ددولت رویه اوس هم له تعصب ډکه ده :

په ځای به وی چی دالبانیا تیروخت ته هم یو نظر وکړو او وگورو چی څنگه دغه اسلامی هیواد له سپیڅلی رڼا څخه د تروږمی په لور یون پیل کړ.

په ۱۹٤٥ م کال کی البانیا دکمونیزم په ویرونکو اوبوږنونکو تیارو کی ډوبه شوه په همدغه وخت کی یی مذهبی شخصیتونه اومذهبی اداری دظلم او استبداد په پنجو کی کلکی کړی تر۱۹٦۷ م کال پوری دغه ظلم اوبربریت خپلو اخیری بدبختیو ته ورسید مرکزئ ایالاتی حکومتونو ته اجازه ورکړه چی ټول دهرقسم مذهبی جایدادونو دضبط کولو صلاحیت لری له دغه کارڅخه هدف لومړی دمسلمانانو جوماتونه ؤ پدغه طرحه اوپلان باندی عمل کول یی دحکومت دنااهلی اووحشی توب یو بدنام مثال وخوت .

په ۱۹٤٥ م کال کی البانیا دکمونیزم په ویرونکو اوبوږنونکو تیارو کی ډوبه شوه په همدغه وخت کی یی مذهبی شخصیتونه اومذهبی اداری دظلم او استبداد په پنجو کی کلکی کړی تر۱۹٦۷ م کال پوری دغه ظلم اوبربریت خپلو اخیری بدبختیو ته ورسید

په تیرشوی کال کی دالبانیا دبهرنیوچارو دوزیر مرستیال محمد کلپاتی داسلام خلاف یو واری بیا دزهرجنوبیا نیو څخه کار واخیست نومړی اعلان وکړچی اسلام دانسانی معاشری په وجود باندی دخطر ناکو جراثیمو حیثیت لری ددی لپاره نومړی دایران او لبنان مثالونه وړاندی کړل نوپدغه وخت کی دغی اعلان دمذهبی بندیزونو دسست والی په امیدونو یوځل بیا اوبه راپریښودی اودمسلمانانو ټول ارمانونه یی دخاورو سره خاوری کړل .

دالبانیی دپوهنتون دساینس شعبی استاد پروفیسور (ایلك بودا) هم اعلان وکړ چی یواځی لادینیت حقیقت ښوونکی اوپه زړه پوری ژوند دی دغه پروفیسور داهم وویل چی جوماتونه مولدی خاطره تړلی دی چی داد ژوند په لاره کی یو بی فایدی اودازغی لرونکی ونی حیثیت لری دنومړی پروفیسور کوم چی عیسوی هم دی دادعوی کټ مټ دالبانیا دمشهور مشر (گیانی پاشاواسا) دنظریاتو اوغږونو انگازی وختی (پاشاواسا) هم یو متعصب عیسوی ؤ کوم چی په ۱۸۷۸ م کال کی خپل نظریات دخلکو په مخکی وړاندی کړی ؤ هغه ویلی ؤ چی (گیرجو) ته د(غیر مسلموعبادت خانی) اوجوماتونو ته په مخه ښه ووایي د مذهبی مسوولینو وعظ اونصیحت مه اوری اودمسلمانانو دعالمانو په خبرو اوتقریرونو پسی مه ځی ددغوټولو خبرو هدف دادی چی له تاسی څخه ویریدونکی اوبزدلان جوړکړی !!! دالبانیا مذهب دالبانیا یی قومیت څخه پرته بل هیڅ شی ندی.

ددغو بدو حالاتو په موجودگی کی ددی خبری اندازه لگول څه اسانه خبره نده چی د« کریسنټ انټرنشنل» خبرنگار په څومره مشکلاتو کی نښتی ؤ کله چی ده ته دتبلیغی جماعت له دوو تنو ورونو سره دمرکو وخت په لاس ورغی دتبلیغی جماعت دغه دوه تنه هیڅکله هم دمرکی لپاره تیار نه ؤ .

دغو دواړو حضراتو پدی خبره ټینگار کاوه چی دوی له هرقسم نمود اوشهرت څخه ځان ساتل غواړی دوی په همدی خبره ټینگ ولاړ ؤ چی زموږ دکار لپاره غریب

داسلام دمبلغینو دغه ټولی دالبانیا په مرکز تیرانا او دځنو نورو برخو په کوڅو اوبازارونو کی پیاده ګرځیده دوی خلکو ته داسلام عالمګیرامنیتی پیغام اوپه اسلامی طریقه دزړه داخلاصه (اسلام علیکم) وړاندی کاوه دالبانیا استوګنو به دوی ته اشاری کولی او ویل به یی مسلمان ، مسلمان اکثره البانیان خوبه ددوی مخی ته راتلل اوپه ډیر فخرسره به یی ویل موږ هم مسلمانان یو .

الوطني اوکمنامی دساو دروح کاروړکوی موږداکار صرف اوصرف دالله تعالی درضا او خوښۍ لپاره کوو نه پکی زموږ کوم ذاتی اونه دپردیو په لمسه څه اغراض شته .

په یونان کی دالبانیی سفارتخانی داکوښښ کاوه چی دغی جماعت ته دالبانیا په تګ کی مشکلات پیداکړی اودوی حوصلی ماتی کړی ترڅو له دغی کارڅخه پړه وکړی نوسفارتخانی دیوه تن په سردیوی ورځی دویزی لپاره د(۱۲۰)امریکایی ډالرو دداخلولو غوښتنه وکړه ، حالانکه دویزی عامه بیه دیوی ورځی لپاره (۲۵) امریکایی ډالره ده چی پدی کی دیونان څخه دالبانیا مرکز تیرانا ته تګ راتګ خوراک څښاک اوسیدل سیل اوسیاحت هم شامل دی کله چی نوموړی وروڼه دورځی دیوه تن په سر د(۱۲۰) امریکایی ډالرو په ورکولو هم رضا شول نوفقط د(۱۱) ورځو ویزا ورکړای شوه په روایتی لباس کمیس اوپرتوګ کی ملبوس دغه وروڼه به چی دالبانیا هری سیمی ته ورتلل نودټولو خلکو سترګی به دهمدوی خواته کړی وی

داسلام دمبلغینو دغه ټولی دالبانیا په مرکز تیرانا او دځنو نورو برخو په کوڅو اوبازارونو کی پیاده ګرځیده دوی خلکو ته داسلام عالمګیرامنیتی پیغام اوپه اسلامی طریقه دزړه داخلاصه (اسلام علیکم) وړاندی کاوه دالبانیا استوګنو به دوی ته اشاری کولی او ویل به یی مسلمان ، مسلمان اکثره البانیان خوبه ددوی مخی ته راتلل اوپه ډیر فخرسره به یی ویل موږ هم مسلمانان یو .

په تیراناکی ددوی لپاره یوجماعت پرانستی شو پوره (۳۰) کاله وروسته هلته اذان واوریدل شو اولمونځ ادا کړای شو په سلګونو خلک له جومات څخه بهر ودریدل اوپه ډیره دلچسپی سره یی دلمونځ کوونکو داعمالو مشاهده اوڅیړنه کوله په اوښکو ډکو سترګو یوه ښځه راوړاندی شوه اودوی په خدمت کی یی سوغات وړاندی کړ خونوموړو وروڼودسوغات داخستلو څخه معذرت څرګند کړ خودغی ښځی خپل سوغات دجومات په حویلی کی کیښود .

نوموړو وروڼو په مرکه کی ویلی دی مسلمانان دالبانیا یی مسلمانانو سره په اړیکو ټینګولو کی له یو څه مشکلاتو سره مخامخ کیږی ځکه چی دالبانیاډیرلږ خلک په انګریزی ژبه پوهیږی .

دوی ته داهم معلومه شوه چی دډیرعمر خاوندان یی اوس هم اسلامی عبادات پرځای کوی هغوی په کورونو کی په پټه سره لمونځونه ادا کوی .

خو ځوان نسل یی داسلام څخه په پوره ډول ناخبره دی البانوی ځوانانو به په ډیره ځیرکتیا سره زموږ دکړنو اوحرکاتو مطالعه کوله خو ددی ترڅنګ به یی له موږڅخه پوښته ویره اوترهه هم محسوسوله تردی پوری چی زموږ سره په خبرو کولو یی پخپل ځان کی یوڅه کمزور تیا اونیمګړتیا احساسوله .

پدغه وخت کی چی تاسی ګران لوستونکی دغه لیکنه لولی په البانیا اوځنو نورو هیوادونو کی ډیرزیات جوماتونه دعبادت کوونکو پرمخ تړل شویدی او ځینی یی په موزیمو تبدیل شوی دی خودمایوسی اوخفګان هیڅ خبره نشته ځکه که مسلمانان نن هم خپله اصلی وظیفه دعوت وتبلیغ اوجهاد فی سبیل الله لاره خپله کړی نو دالله تعالی په فضل اوکرم سره به دورځی ورځی دسومنات بتونه رارغړی اودوی داوسیدو ځایونه به دالله تعالی په عبادتخانو بدلیږی

یك بحث عمیق وجالب :

ازتاریخ تیره واعمال حزب بعث وبنیانگذاران

ن ، نوری

حقایقی که تاحال نخوانده اید

درفبروری ۱۹۶۳ م با سرنگون ساختن حکومت جنرال قاسم درعراق ، حزب بعث به قدرت رسید ، احمد حسن البکر برمسند قدرت تکیه زد که بعد ازیك مدت تقریبا طولانی صدام حسین جانشین وی شد .

اساس حزب بعث که به معنای فرستادن ، برانگیختن ویا نشاة الثانیة است در ۱۹۳۰م ، درسوریه گذاشته شد و مقصد ازتشکیل آن سرنگونی حکومات وابسته به امپریالیزم وشخصیت های موثر سیاسی عراق وسوریه بود وازطرف دیگر حمایت ازحکومات وشخصیت های بود که صرفا بخاطر فلاح وبهبود انسانیت فعالیت می نمایند.

سمیر الخلیل مورخ مصری می گوید : بنیان گذاران بعث شعار هاونعره های راکه به سطح عمومی درجراید برای مردم انتشار میدادند واهداف خود را تشریح می نمودند عملا مقاصد معکوس انرا مدنظر داشتند که این ادعا ، دوسال بعد از روی کارامدن حزب بعث وفعالیتهای آن تصدیق گردید.

بنیانگذاران اصلی این حزب یك پروفیسر عیسایی بنام مائیکل افلاك یا میشل افلق ویك استاد به اصطلاح مسلمان یعنی صلاح بیطار می باشند که برهمه حزب بعث قدرت وتصرف داشتند .

مائیکل وصلاح بیطار هردو دریك

لیسه عالی دمشق معلم بودند هردورفیق صمیمی وباوجود مذاهب جد اگانه ازنگاه سیاسی هم مسلك بودند و ازنگاه عقیده نیز هردو سوار یك کشتی وهردو هم صنفی درپوهنتون معروف ساربون فرانسه تحصیلات خود رابه پایان رسانیده

بودند .
بعد ازفراغت ازپوهنتون ساربون هردو بدمشق امدند ، درمورد مائیکل افلاك گفته می شد که وی درحالت غیر عادی ونیمه جنونی قرار داشت ولی باوجود آن درمدت کمی قدرت خود را برحزب بعث مستحکم نمود اگر چه حزب بعث درعراق مدتها بعد برسراقتدارآمد ، مگر مائیکل راسرکردگان بعث عراقی خیلی ها بدیده تکریم واحترام میدیدند ووی رابزرگترین دانشمند عرب لقب دادند .

وهنگامیکه در ۱۹۸۸ م از جهان درگذشت ، جسدوی را، بعثیان عراقی درمحوطه دفتر مرکزی حزب بعث دفن نمودند .

بسام تبی مورخ سوریایی تشریح نموده که ، مائیکل افلاك وصلاح بیطار درهنگام تحصیل درپوهنتون ساربون ، تحت تاثیر عقاید شدید فاشیستی آمده بودند ، زیرا این نظریه دراروپا برای نسل جوان آن زمان به اصطلاح مود روز گردیده بود .

به عقیده مائیکل ، بزرگترین نجات دهنده نوع انسان تنها ادولف هتلر بود وبس ، مائیکل با اثر پذیری ازنظر وتیوری نازیزم ، برای خود طرح دیگر وراه دیگری انتخاب

> سمیر الخلیل مورخ مصری می گوید : بنیان گذاران بعث شعار هاونعره های راکه به سطح عمومی درجراید برای مردم انتشار میدادند واهداف خود را تشریح می نمودند عملا مقاصد معکوس انرا مدنظر داشتند که این ادعا ، دوسال بعد از روی کارامدن حزب بعث وفعالیتهای ان تصدیق گردید

نمود ، درهمان پوهنتون ساربون ، اساس نهادن حزب بعث را ، با خود فیصله کرده بود ، وی به عزیز ترین دوست خود صلاح گفت راه ما درمیان سوسیالیزم ونیشنلیزم است ، این راه ، راه حصول اقتدار راالسان وهموار خواهد نمود .

پروفیسر برناردلیوائس ،استاد پوهنتون برنستن امریکا ، همان پوهنتونیکه ، زمانی البرت انشتاین دران تدریس می نمود ، می گوید که در۱۹٤۱ ،هنگامیکه ، یکنفر عرب نشنلیست وطرفدار جرمنها ، بنام رشیدعلی ، سعی نافرجامی برای برپا داشتن يك انقلاب نظامی می نمود ، درعین همان وقت ، مایئکل افلاك وصلاح بیطار ، بی پرده وپوست کنده عقاید خودرا اظهار وتشهیر می نمودند . انهاکمیته ای هم بنام رکمیته برای امداد عراق) به جهت همین مقصد ساختند . درتجت پوشش همین کمیته ، جهت تشهیر وترویج نظریات نشنلیزم عربی بفعالیت اغاز کردند . بعد ها همه جهانیان دیدند که ، زمانی فرا رسیدکه ، وسیله معرفت وشناخت عربها ، همین افکارنشنلیستی وقوم پرستی گردید .

درآن ایام شعار های اساسی وبنیادی حزب بحث عبارت بودند از:

(اتحاد ، ازادی وسوسیالیزم)

نوشته هاویادداشت های مایئکل افلاك حیثیت خون رادر وجود حزب بعث داشت ، اتفاق اراء درباره مایئکل افلاك این است که وی درزیر پرده نشنلیزم عربی ، اتحاد وسوسیالیزم ، اصلاً تیوری الحادو انارشیزم راپخش ونشرمی نمود گفته می شود که حکومت فرانسوی سوریه ، وی را به منظور خاصی بجهت تعلیمات خاصی به فرانسه فرستاده بود .

وقتی که وی از فرانسه برگشت ،

اورا درمدرسه التجهیز الاولی دمشق بحیث استاد تاریخ اسلام مقرر کردند . درهنگام تدریس ، سعی نمود در اذهان شاگردان خود این عقیده را ذهن نشین نماید که ، اسلام صرف نهضتی بود از اهل عرب ، وعربها شکل آنرا تغیر دادند وی همیشه درین مورد پافشاری می نمود که ، قرآن مجید راحضرت عثمان (رض) جمع آوری نموده درست است ولی این قران از آن قرانیکه محمد (صلی الله علیه وسلم) آورده بود . فرق دارد (نعوذ بالله) .

وقتی که این مهملات ، به گوش علمای اسلامی رسید ، احتجاج شدیدی علیه وزیر معارف آن وقت نمودند . وزیر معارف هم مضمون تاریخ راازمائیکل گرفت واورا استاد لسان فرانسوی ساخت . مائیکل در ۱۹٤۲ از معلمی استعفا داد . ومتوجه منظم نمودن حزب بعث گردید .

وقتی برای اولین مرتبه ، حسنی الزعیم ، انقلاب نظامی رادر سوریه براه انداخت وقدرت را بدست گرفت ، وزارت معارف سوریه رابه مائیکل افلاك سپرد . وی ازین منصب وامکان به حداعظمی وکامل آن استفاده نمود . تعداد بیشماری از پیروان خودراجهت تحصیلات عالی بفرانسه فرستاد . طرفداران وی ادارات مختلف تعلیمی رامرکز فعالیتهای حزبی ونشر افکار ونظریات خود ساختند ، معلمین هم نظرو حامی خودرادر مکاتب مختلفه فرستادند . دارالمعلمین سوریه واکادمی تربیهء معلم دمشق کاملاً تحت اداره وکنترول انان قرار داشت . طلاب ملحد واسلام دشمن دوروزی ازهمین ادارات تعلیمی حد اکثر استفاده هارانمودند .

حکایت مشهور ازهمان زمانه است که ، گروهی ازهمین قماش ، شاگردان ، به عقیده خود شان جنازه خدا رابرداشتند (العیاذبالله) وکلوپهای شبانه رابنام های ، ابوجهل وابولهب نام گذاری نمودند.

حزب بعث‌که ادعای دشمنی باکمونیزم را داشت ، تنظیم وتشکیل ابتدایی خودرا براساسی همان خطوطی بنانهاده که لینین وستالین درابتدای کار حزب کمونیست بناکرده بودند .

بعث باوجود بودن یك حزب سیاسی ،هنوزهم حیثیت یك حزب سیاسی زیر زمیني راداشت دفتر مرکزی حزب راکمیته مرکزی می گفتند که مشتمل بریك رهبر وچارارگان بود .

درهرماه ودر هر مملکت (عربی) لیداران کمیته های مرکزی یك جلسه مخفی میداشتند که درپایتخت های همان مملکت برگزار می گردید ، که دران درمورد عملکردماه اینده حزب ، فیصله های به تصویب می رسید . بخاطر باید داشت که حزب بعث درهمهء ممالك عربی ، نمایندگی های قوی وباانضباط خودرا تدویر نموده بود اگر چه تعداد ارکان اصلی واساسی انان کم بود .

کودتای نظامی ایکه به سرکردگی (بعث) در۱۹٦۳ به موفقیت رسید برای اداره امور حکومت ، کمیته ای را تشکیل داد که بنام ، کمیته ملی انقلاب ، یادمی شد .

تعداد ارکان واسمای انان را فاش نساختند . فرمانروای اصلی عراق درحقیقت همین کمیته بود . باانکه این انقلاب نظامی درهرمورد موفق وکامیاب بود ودگروال عبدالسلام عارف را به سطح رسمی حیثیت برجسته ای حاصل بود، لیکن باوجود آن ، صاحب اختیارات اصلی واساسی همان کمیته ای بود که در فوق ازان تذکررفت.

حزب بعث که ادعای دشمنی باکمونیزم را داشت ، تنظیم وتشکیل ابتدایی خودرا براساسی همان خطوطی بنانهاده که لینین واستالین درابتدای کار حزب کمونیست بناکرده بودند

یك عضو حزب (بعث)بعداً دریادداشتهای خود نوشت که ، عبدالسلام عارف راقطعاً این وضع خوش نمی امد که ما ، درموارد مهمی تصمیم می گرفتیم وقوانینی رابه تصویب می رسانیدیم . لیکن ماهرگز به اووقعی نمی گذاشتیم وجود حزب بعث قبل از حصول اقتدار واثر قدرت آن وحدود نفوذ ان درعراق قطعاً به نظرنمی امد . حجم این حزب رامیتوان ازین حدس زدکه وقتی برای اولین بار در فبروری ۱۹۶۳ م ، کودتای شان به موفقیت انجا مید . تعداد مجموعی اعضاوارکان انها ، یکهزار نفر بود ، همه انان راطبقهء جوان تشکیل میداد که اوسط عمرهرکدام انهاکمتر ازسی سال بود .

بعثی هابرای استحکام اقتدار بهتر تروزیادتر خود ، تشکیل یك سپاه جداگانهء انقلابی ، قدم نهایت اساسی وبااهمیتی رابرداشتند ، عجب اینکه در هیچ گوشه وکنار کشور نه مانعی برای تشکیل ان پدیدار گشت ونه مورد انتقاد قرار گرفتند .

سمیر الخلیل می گوید : مردم بااعلان تشکیل این سپاه ،گیچ شدند ، گویی همه انان رامارگزیده است . درحقیقت وجود شخصیت های جابری چون حسن البکرو صدام حسین جرائت مردم عراق راسلب نموده بود .

صبح روز دوم برسر اقتدار امدن بعثی ها ، اعلان جلب وجذب سپاه جدید به اطلاع مردم رسانیده شد ، چندین هزار جوان محصل رابصورت فوری جلب واحضار نمودند .

طبق اظهار مایی لیور ، تعداد این سپاه جدید که به نام گارد ملی یاد می شد چندان زیاد شد که خطری برای نظامیان اصلی عراق محسوب می گردید . زیراسهولتها ، معاش کافی ودیگر لوازم عیاشی که برای انان مهیا بود ، جوانان نظامی مسلکی عراق حتی در خواب هم نمیدیدند .

یکی از رهبران کمونست عراق درمورداین لشکر جدید تبصره نموده می گفت :

این مردم مجنون صفت ، متکبر وغرق درخواب ونشه ، تهداب عراق رافرومی ریزند .نشهء قدرت وفرمانروائیکه بردماغ اینها است ، هرلحظه می تواند این مملکت رابه یك انقلاب خونین دچار نماید .

اگرچه بعداز جاری ساختن دریای خون ، بعثی ها ، حکومت جنرال کریم قاسم راسرنگون ساخته بودند باان هم از حمایت طبقه ضدکمونست تاحد زیادی برخوردار بودند . درمیان این طبقات ، اکثراً مردم تجارت پیشه واهل مذهب سنی شامل بودند . عبدالسلام عارف گویا نماینده همین طبقات بود . لیکن رفته رفته چهره اصلی بعث ، نزدمردم عراق بی نقاب گردید وازحمایت این طبقات نیزمحروم شده می رفت . مگر اکنون بعثی ها رابه این حمایت ها ضرورت‌نبود.

ادامه دارد ...

دافغانستان دقضیې دحل اساسي لار

سیدمحي الدین «هاشمي»

زموږ هیواد چی دخپل حساس جغرافیایی موقعیت له مخی دتاریخ په اوږدو کی هرځلی دبهرنیو ښکیلاکی ځواکونو دتاړاکونو په نتیجه کی دخونړیو جګړو او معرکو ډګراوسنګر ګرځیدلی،نو مؤمن او اتل خلك یی دوخت دهریرغلګر اوغاصب مقابلی ته دننګ او جنګ میدان ته راوتلی اوله خپل دین ټاټوبی او ناموس څخه ددفاع په خاطر یی دبې شمیره مالی اوځانی قربانیو په ورکولو سره دښمن له رسوا اوشرمیدلی ماتې سره مخامخ کړی اوداوسپنیز مقاومت په نتیجه کی یی داسی ویاړلی کارنامی پریښی چی هغه زموږ دتاریخ زرین او روښانه بابونه اودنورو ښکیل شویو ملتونو او ولسونو لپاره دعبرت درسونه او دآزادی پیلامه ګرځیدلی دی .

کله چی څه دپاسه دیارلس کاله پخوا دروسانو په دستور او ملاتړ دثور خونړۍ کودتا په نتیجه کی دهغوی ملحدو مزدورانو (خلقیانو اوپرچمیانو) دغلامانه اقتدار واکی ترلاسه کړی ، زموږ دهیواد مؤمن وګړی یو ځل بیا دازمویښت په ډګرکی واقع شول ، په تش لاس خودایمان او عقیدی په کارنده وسله یی دالحاد اوفساد په وړاندی مقابله اومجاهده پیل کړه ، چی په ډیرکم وخت کی یی دیو عمومی سرتاسری پاڅون بڼه غوره کړه. روسانو که خپلو مزدورانو ته هر ډول عصری او مدرنی وسلی اووسیلی په واك کی ورکړې او که هرڅو یی ورته دزوراو وحشت قومانده ورکړه ، دلاسپوڅی رژیم پایښت یی یی تضمین نکړای شو،نو پخپله یی دترسلو زرو زیات په ډول ډول عصری وسلو سمبال پوځ سره په ډیری بی حیایی دمقابلی میدان ته راودانګل. په افغانستان کی دروسانو مستقیمی مداخلی دمقاومت اورته دتیلو کار ورکړاولاپسی پیاوړی او ځواکمن شو ، روسانو څه دپاسه نهه کاله په خپل ټول زوراوځواك دمؤمنو افغانانو دځپلو اوټکولو هڅه وکړه ، دزر او زور ټولی وسیلی یی پکار واچولی خو خپل شوم هدف یی ترلاسه نکړای شو ، په هرډګر اوسنګر کی یی ماته وخوړه اوبالاخره له افغانستان څخه په تیښته ووتل. دروسانو له وتلو سره

سم دمزدور رژیم رانسکوریدل
اودمجاهدینو په لاس دیو اسلامی
حکومت جوړیدل لازمی خبره ده،خو
داچی په افغانستان کی دیو
اسلامی حکومت جوړیدل دسیمی
دځینو دهیوادو په شمول شرق
اوغرب دځان لپاره یوستر خطرګڼه
، نو دهغی دمخنیوی لپاره یی دیو
کړ سازش له مخی دتوطئو په
جوړولو اودعمل په ډګرکی پلی کولو
لپاره هلی ځلی پیل کړی اودهمدغه
توطئو اوسازشونو په لړکی زموږ
اسلامی انقلاب چی دبری په
درشل کی ؤ دنسبی رکود اوسکوت
سره مخامخ شو. له مجاهدینو
سره په مرستو کی دومره کموالی
راغی چی دنشت برابری شوی
اوپه مقابل روسانو خپلی هغه
وسلی اووسیلی چی پوځونو یی
افغانستان ته له ځان سره راوړی
وي هم خپلو مزدورانو ته پریښودی
اودنورو نویو وسلو اواکمالاتو په
رالیږلو کی یي ورته څوچنده
زیاتوالی راوست. له یوی
خواروسانو دخپلو مزدورانو په
خوله دملی روغی جوړی ، پرزبندی
اوله مجاهدینو سره دقدرت

روسانو که خپلو مزدورانو ته هر څومره عصري او مډرني وسلي اووسيلي په واك كي وركړي او كه هرڅه يي ورته دزوراو وحشت قومانده وركړه ، دلاسپوڅي رژيم پايښت يي يي تضمين نكړاي شو،نو پخپله يي دترسلو زيرو زياتو په ډول ډول عصري وسلو سمبال پوځ سره په ډيري بي حيايي دمقابلي ميدان ته راودانګل.

شریکولو او ... ناری سوری پیل
کړی اودی ترڅنګ شرق اوغرب
دخپل منځی تفاهم په نتیجه کی
که دافغانستان دقضیی دسیاسی
حل خبری راپورته کوی اوکله
دملګروملتونود سازمان دلاری
دروغی جوړی اود سوله ایز حل په
اړه وړاندیزونه رامخی ته کوی او
ورسره غبرګ وخت په وخت دبیلا
بیلو نړیوالو دډله ایز ارتباط وسایلو
له لاری پرله پسی داسی پروپاګند
اوتبلیغات هم کیږی چی ګوندی
مجاهدین نشی کولای دجګړی له
لاری دروسانو مزدور رژیم
رانسکورکړی ، نوباید دافغانستان
قضیه په سوله ایزه توګه دخبرو
اترو اوخپل منځی مفاهمی له لاری
حل شی او مجاهدین باید په یو
ائتلافی حکومت کی دروسانو له
مزدوری ډلی سره قدرت شریک
کړی.(خو اوس دمجاهدینو
وروستیو پوځی بریو ددوی
داتبلیغات تریره حده بی اغیزی
کړل .)

دافغانستان څخه دروسانو
ترتښتیدلو راوروسته تراوسه زمانی
واټن کی چی دروسانو مزدور رژیم
په ځینو لویو ښارونو اوپوځی
مرکزونو کی په محصور شکل پاتی
دی ، ددغی نسبی بقا او پایښت
یوازینی عامل یی همدغه
ورسازشونه اودشرق اوغرب ګډی
مذبوحانه هلی ځلی دی چی غواړی
څوکولای په دی وسیله په
افغانستان کی دمجاهدینو په لاس
دیو اسلامی حکومت دجوړیدو مخه
ونیسی اودبیلا بیلو توطئو اومانورو
دعملی کولو په نتیجه داسی بی
حیثیته حکومت رامنځ ته کړی چی
تر ممکنی اندازې دهریو ګتی

خوندی وساتی .

په دی کی خوشک نشته چی دافغانستان قضیه په دی څه دپاسه دیارلسو کلونو کی همیشه په نړیواله سطحه دوخت دتودو مسایلو په کتار کی شامله وه اوده په دی زمانی واټن کی چی دافغانستان پر مؤمنو خلکو څومره ستونزی اوکړاونه تیرشول اولااوس هم تیریږی هغه له هیچانه هم پټ نه دی اوکه څوك خپل شخصی غرضونه اوشومی هیلی یوی خواته کړی هویو دسالم عقل خاوند په دی پوهیدای شی چی افغانانو دڅه لپاره دادومره ستونزی زغملی اودڅه لپاره یی دیو نړیوال ستر طاغوتی ځواك په وړاندی دمقابلی ډګرته دانګلی اودڅه لپاره یی دادومره قربانی ورکړی اودمهاجرت ستونزمن ژوند ته یی غاړه ایښی ده معلومه خبره ده چی افغانان له خپلی اسلامی خاوری څخه ددالحاد اوفساد دټغر دټولولو اوپه خپله خاوره کی دیو اسلامی حکومت دجوړولو لپاره راپورته شوی اوترڅو چی یی دغه ستره هیله نه وی ترسره شوی خپلی مبارزی اوجدوجهد ته به ادامه ورکوی ، ترهغه پورې چې دروسانو مزدور رژیم دمجاهدینو په لاس نسکورنشی اویا نجیب اودهغه مزدوره ډله له بی ځایه مقاومت نه لاس وانخلی، داسلام غیرتی ته رانشی، ځان مجاهدینو ته ونه سپاری اوپه خپلو تیرو اعمالو پښیمانیتا څرګنده نه کړی دافغانستان دقضیی هیڅ ډول سیاسی حل دمجاهدینو لپاره دمنلو وړنه دی اونه څوك مجاهدین دهغه په قبولو مجبوروای شی ، لکه څنګه چی مجاهدینو په پیل کی په تش لاس دخدای (ج) درضا اواعلای کلمة الله په خاطر دکفر او الحاد په وړاندی جهاد پیل کړی اوبی له الله (ج) څخه یی دهیڅ مادی ځواك د مرستی تمه اواسره نه ده لرلی ، خپل وروستی هدف ته درسیدو تروختته به خپل جهاد ته ادامه ورکوی په دغه لارکی نه دکفري طاقتونو ګډی هلی ځلی ددوی دبري مخه نیولای شی اونه دخپل سرنوشت ټاکلو په لار کی دمادی ځواکونو دمرستی په تمه اواسره دوی له خپل هدفه راګرځیدلای شی،

دروسانو له وتلو سره سم دمزدور رژیم رانسکوریدل اودمجاهدینو په لاس دیو اسلامي حکومت جوړیدل لازمي خبره وه خو داچي په افغانستان کي دیو اسلامي حکومت جوړیدل دسیمي دهیوادو په شمول شرق اوغرب دځان لپاره یوستر خطرګانه ، نو دهغي دمخنیوي لپاره یي دیو ګډ سازش له مخي دتوطئو په جوړولو اودعمل په ډګرکي پلي کولو لپاره هلي ځلي پیل کړي اودهمدغه توطئو اوسازشونو په لړکي زموږ اسلامي انقلاب چي دبري په درشل کي و دنسبي رکود اوسکوت سره مخامخ شو.

عقل، کامل هدایت نه دی

مولانا :عبدالمجید

لومړی لازمه ده ددغه علمي بحث دادامې لپاره عقل تعریف شي :

عقل : عقل دانسان دنفس دیوې قوې څخه عبارت دی چې نفس ددې قوې په واسطه دشیانو دپیژندنې لپاره جوګه کیږي اودمادې څخه مجرد دی . (امام غزالي (رح)

عقل په لغت کې دځاروي ګونډه کولو ته ویل کیږي چې دتلو اوفرارڅخه منع شي ، یا په بل عبارت عقل هغه پړي ته وایي چې اوښ یابل ژوی وربانديې ګونډه کیږي څرنګه چې انسانان هم دعقل په واسطه دبشري مهلکو افعالو ، اقوالو ، او افکارو څخه منع کیږي نودهماغه پړي حیثیت لري چې دانسان منفي علایق کنترولوي .

اما په اصطلاح کې مختلفو علماؤ په مختلفو دورو کې دعقل په اړوند زیات تعریفونه اوتعبیرونه وړاندې کړي دي .چې دټولو ذکرکول یې جد ابحث اوتحقیق غواړي .

عقل په اصطلاح کې له یو مجرد جوهر څخه عبارت دی چې دشیانو دتفکیک اوپیژندنې قابلیت لري دعقل په اړوند پوهان او فیلسوفان ډیر متفاوت نظریات لري او دعقل لپاره په ډیرواقسامو قائل دي دمثال په ډول دپخواني یونان فیلسوفانو لس ډوله عقلونه ښودلي دي او داعقلونه یې یودبل څخه زیږیدلي ګڼلي چې اخرنی مبدا یې عقل فعال بللی دی .دوی وایي چې خدای (ج) په اول حل عقل فعال پیداکړ اودانور عقلونه په تدریجي شکل دعقل فعال زیږنده ده .

امام غزالي دعقل لپاره څلوراقسام تاکي چې په لاندې ډول دي :

١: عقل هیولاني (عقل فطري)

٢ :عقل غریزي

٣ :عقل بالملکه (عقل ممکن)

٤ :عقل مکتسب یا عقل تجربي (عقل بالفعل)

بعضی عالمان وایي عقل دملائکې څخه عبارت دی ځینې نوربې عقل عبارت دقلب دعضلې څخه بولي په دې معنی چې دوی وایي زړه دعقل ځای او مرکز دی چې همدغه وروستی نظر حقیقت ته نژدې ښکاري خودکیفیت اوکمیت له تغیر سره ځکه باری تعالی (ج) پخپل ازلي کتاب قران عظیم الشان کې دتمیز او پوهی اشاره زړه ته

کېږده چې په نهمه سیپاره سورة الاعــراف ۱۷۹ اوم ایــت کــې فرمایي:

ترجمه : ددی کافرانو لپاره زړونه دي امادوی وړباندې دحق اوباطل منځ کې پوهه او تمیز نه حاصلوی اوهمدارنګه په اوله سپاره کې دسورة بقری په اوم ایت کی هم دانسان زړه ته دتمیز اوپوهې دوسیلې په توګه مرموزه اشاره شوې ده .

اوس اصلي مسئلې ته راګرځم اوغواړم ثابته کړم چې عقل انسان ته پوره لارښوونه نشي کولی که څه هم ځینې پوهان اوعالمان عقل ته پیغمبر خفي یاپټ او نفسي پیغمبر وایي خوبیا هم عقل بدون دوحی الهي څخه په ځانګړې توګه دا توان نلري چې انسان ته پوره لاروښیي پدې معنی چې عقل نشي کولای داسې لارښوونه وکړي چې انسان په پای کې ابدي کامیابي ته ورسیږي. ځکه عقل ممکن اومخلوق دی اوممکن پخپل ذات کې دتغیراتو اوتحولاتو محل وي نوپه واضحه توګه څرګندیږي هغه شي چې پخپله ثابت اوقایم نه وي بیا څنګه کیدای شي بل لره دې دانتهایي اوابدي کامیابیو سمبول اومنبع شي .

عقل ممکن اومخلوق دی اوممکن پخپل ذات کې دتغیراتو اوتحولاتو محل وي نوپه واضحه توګه څرګندیږي هغه شي چې پخپله ثابت اوقایم نه وي بیا څنګه کیدای شي بل لره دې دانتهایي اوابدي کامیابیو سمبول اومنبع شي .

بله داچې عقل تل دچاپیریال څخه متاثر وي اوعقل په مختلفو افرادو کې مختلف وي یعنې داحمد دعقل قوت اووس دکمیت او کیفیت له مخې دمحمود اونورو افرادو سره کاملا متفاوت دی .

کله چې دیوانسان ددماغ متصرفه قوه (ددماغ هغه قوه چې دیو کار په کولو اونه کولو حکم صادروي) دخارجي اوباطني (داخلي)حواسو په وسیله کومه خارجي مسئله حس کړي لومړی عقل وړباندې تمیز کوي اوبیا دحس شوي شي په باب په هغه ډول فیصله صادروي چې حواسو ورته په کوم ډول خبرورکړی وي اوبیا سمدلاسه متصرفه قوه دفیصلې په صادرولو اقدام کوي .

دمثال په ډول یوسړی چې مریض وي تبه ولري صفرا اوبلغم یې راپورته شوی وي داشخص عسل (شهد) ترخه حس کوي سره ددې چې عقل سلیم خوداوایي چې شهد خواږه وي اوس دمریض دافیصله داصلي حقیقت په خلاف ده او دروغ عقل دایجاباتو څخه هم لیرې ده نوبیا ولې ددې شخص عقل داسې یوه فیصله صادروي چې هغه دروغ عقل او حقیقت سره متفاوته وي دسلیم عقل اوفطري عقل څخه مقصد هغه عقل دی چې فیصله یې دشریعت سره برابره وي همدارنګه یوسړی دلیرې ځای څخه نظر اچوي ګوري چې په غره کې ورته اوښ ښکاري اوحال دادی چې هغه به په غره کې یوه تیږه وي اما ددې شخص په نظر کې تیږه داوښ په څیره ولیدل شوه دده دماغ اکبر (متصرفه قوه) دعقل دفیصلی څخه وروسته ومنله چې داالیدل شوی شی اوښ دی. دغه دعقل فیصله دلته باطله ده پدې وجه چې حس پخپل کارکې خطاشوی اودحس دناسالم درك له درکه فیصله غلطه وخته اوعقل یې په تمیز کې دغلطی سره مخامخ کړ نوپدې دلیل وایو چې په عقل باندې دحواسو تاثیر دی لذا ثابته شوه چې عقل پخپل ذات او وجود کې یوازې او مستقل کافي نه دی بلکه دحواسو مرستې ته

محتاج دی .
که حواس وجود ونلري عقل به بیکاره او عاطل پاتې شي دبیلگې په ډول دخوب اویا بیهوشي په وخت کې عقل کارنکوي او معطل وي ځکه دغه مهال حواسو خپل کار پریښی وي کله چې حواس خپل کار خوشی کړي عقل هم بیکاره او وزگارشي اودحواسو نقصان یوه بدیهي (هغه شی چې ثبوت لپاره یې دلیل راوړ لو ته ضرورت نه وي) خبره ده عقل دحواسو دعملیې دسرته رسولو څخه وروسته دمحسوس په باب هغه ډول فیصله صادروي چې په کوم شکل ورته حواسو خبرورکړی وي دحواسو پای دعقل ابتداوي په کوم ځای کې چې حواس ودریږي کارپریږدي اونوردکار کولو توان ونلري بیا عقل خپل کار پیل کوي .

یوه معقوله خبره ده چې وایي هرڅوك دنیا په خپلوسترکو گوري په دې معنی چې هرانسان دخپل درك ، پوهې ، اوعلم په واسطه دیوشي په اړوند فیصله کوي په هغه شان چې دهغه عقل یې ومني داباید وویل شي چې دټولو انسانانو علم پوهه ، درك او حس دیوبل سره بالکل متفاوت دی .

نو نتیجه داسې څرگندیږي چې په یو وخت کې دیوشي څخه یوانسان یوقسم مفهوم اخلي اوبل ترینه بل ډول اوهمدادلیل دی چې عقل دبیلا بیلو انسانانو لخوا دمختلفو عقیدو ، نظریواوعکس العملونو دتبارز سبب کیږي اودعقل همدغه دمفهوم داخستلو طرز داختلاف اساس ، بنسټ اواصل تشکیلوي چې دیوشي اوپیښې په اړه په یو وخت کې بیشماره مفهومونه اخستل کیږي .

کله داسې پیښیږي چې داخستل شوو مفهومونو ترمنځ ډیره زیاته فاصله موجوده وي اوس له هغو ډیرو شیانو څخه چې عقل ورڅخه ډیر زیات متاثر کیږي دمثال په ډول یوڅو وړاندې کوم :

۱- عقل دټولنیز ژوند ، رسم، رواج اوشرائطو څخه متاثر وي پدې لحاظ دشرعي احکامو اثبات نشي کولی نو هغه څه چې حکم نشي ثابتولی دحکم نتیجه به څنگه ترلاسه کړي .

۲- عقل د (وهم) په موجودیت کې پوره کارنشي کولی عقل له ویرې څخه ډیرمتاثره وي مثلا اکثر خلك دمړي څخه ویریږي سره ددې چې ده ته داخبره څرگنده ده چې مړی هیڅ نشي کولی اما (وهم) وړاندې اغیزه کوي اومختلف شیان ورمخې ته کوي اودی په ویره کې اچوي اگرچې دغه متوفابه دده خپل دوست وي سره ددې ټولو خبرو چې سلیم عقل یې نه قبلوي خوبیا هم دی ویریږي ځکه چې (وهم). دانسان دقواوُ پاچا دی .

اوهم عقل دوهم په موجودیت کې پوره کارنشي ترسره کولی

عقل ددنیا په تولو کارونو کی دالی حیثیت لری اوددنیا الات ، سباب ، واسطی اووسیلی همیشه دبدلون په حال کی دی ، یعنی دعقل په شمول داټول شیان تکامل وده اوتنزل کوی او بدلونونه کی رامنځ ته کیږی ثابت اوقایم پاتی کیدل یی دامکان څخه یری خبره ده نن به عقل دیوشی په اړوندیوه فیصله وړاندی کوی وسبا به بله، همداسبب دی چی نن دپرونی عقل ماڼی ورانیږی کوم چی پرون دخپل تعمیر په وخت کی دملیونونو انسانانو مرگ رواگنلی و اودبی گناه مظلومانو بی وسو په وینو اوغوسو یی دخپل عقل دجوړی شوی ماڼی تهدابونه ټینگول .

نوڅرگنده شوه چې عقل ناقص دی
٣- عقل دقهر اوغصې په وخت کې هغسې چې لازمه ده په صحیح ډول کارنشي کولی لذا عقل په یوازې توب سره بې کفایته دی ، پورتنی حالت هرڅوك پخپل ځان اوټولنه کې په دقیق ډول سره لیدلی شي .

٤- عقل دمینې او محبت په موجودیت کې هغه شان کارنشي ترسره کولی چې څنگه لازمه وي .

٥- عقل دخپلوی دوستی په صورت کې لکه څرنگه چې ښایي هغه شانته دریځ نشي غوره کولی اوداسې نور په سوونو مثالونه شته چې دعقل نیمگړتیااوناتواني په ډاگه کوي .

دعقل په اړوند بله په زړه پورې خبره داده چې پخپل ذات کې پرونی عقل دننني عقل دتایید ورندی .

٦- عقل دشهوت په وخت کې کارنکوی دغونی په توگه یو سړی دیوې ښځې سره غیر شرعي محبت لري دغه شخص ټولې ممکنې وسیلې پکاراچوي ترڅو دحیواني غریزې غوښتنه ترسره کړي دهمدغه ناقص عقل په واسطه ورته هغه لارې چارې لټوي چې په اسانه دغه ناروا مرام ترلاسه کړي .

سلیم عقل خوداوایي که څوك یې مخکې له دې چې هدف ته ورسیږي ووینې په اسلحه به یې وولی ، مردار به ومري ، قوم تبربه یې هم شرمنده شي ، دخدای (ج) په عذاب به هم واوړي ، ټول ژوند او اخرت به یې په یوځل دهلاکت دگولۍ ښکار شی اما داشخص دسلیم عقل ددې ټولو فتو وسره بیاهم داټول مسلم حقایق په یو ځل شاته وغورځوی اوخپل ناشایسته عمل ته اقدام وکړي چې په نتیجه کې ددنیا اوعقبې ټمامي بدبختی وربه غاړه شي

شخص داکارولې کوي ؟
داکارځکه اجراکوي چې عقل دشهوت په وخت کې کارپریږدي اومنفي لوری ته مایل کیږي معلومه شوه چې عقل کامل هدایت ندی اوپوره لارښوونه نشي کولی .

باید په ډاگه وویل شي چې انسان له پاره وحی الهي اوشریعت ضروري دی ځکه چې دټولو کمیو اونواقصو څخه پاك اومحفوظ دی اودهیڅ موجود اوهیڅ پیښی تر اغیزې لاندې نه راځي .

٧- عقل دټولنې دتکامل اوتنزل څخه اغیزمن وي اودایو څرگند حقیقت دی چې هیڅ ژوندی موجود دتکامل اوتنزل څخه ځان ژغورلی نشي حتیٰ اکثره بې ساه پدیدې هم.

عقل ددنیا په ټولو کارونو کې د(الی) حیثیت لري اوددنیا الات ، اسباب ، واسطې اووسیلې همیشه دبدلون په حال کې دي ، یعنې دعقل په شمول داټول شیان تکامل وده اوتنزل کوي او بدلونونه پکې رامنځ ته کیږي ثابت اوقایم پاتې کیدل یې دامکان څخه لیرې خبره ده نن به عقل دیوشي په اړوندیوه فیصله وړاندې کوي اوسبا به بله .

همداسبب دی چې نن دپروني عقل مانۍ ورانیږي کوم چې پرون دخپل تعمیر په وخت کې دملیونونو انسانانو مرگ رواگڼلی وُ اودبې گناه مظلومانو، بې وسو په وینو اوغوسو یې دخپل عقل دجوړې شوي مانۍ تهداوونه ټینگول .

لکه چې نن هم داروین ، لامارك ، مارکس ، انگلز ،لینن ، فیورباخ ، افلاطون ، مزدك ، اونورو هغه ټول طرحه شوي قوانین اوپلانونه بې اساسه وگڼل شول چې پرون یې دکمبر خه عقل خاوندانو ته دخیال اووچ تصور څخه ډك امیدونه وربخښل .

دانظریات اوافکارچې دانساني عقل زیږنده وو راپیدا اوج ته ورسیدل نزول اودوباره یودبل پسې

نابود شول .

سره ددې چې طرفدارانو به يې ادعا کوله چې که انساني ټولنه زموږ په خوښه په ټوله دنيا کې جوړه شي بيا به موږ د طبيعت او کائناتو دنابرابريو په ضد مبارزه جاري ساتو خوانسانانو په سترګو وليدل چې ددوی خبرو اوعمل دغښي دجال هومره متانت اومقاومت هم ونه ښودلی شو .

پوښتنه رامخې ته کيږي چې ولې دعقل داکره وړه دومره بې اهميته ثابت شول ؟

داځکه بې ارزښته ثابت شول چې دانسان عقل نشي کولی چې قايم اوثابت واوسيږي انسان زړيږي ، مريضيږي ، کمزوری کيږي اوله منځه ځي همدارازدده دعقل حال هم همداسې وي پرون يو شمير خلکو دسوسياليزم ، کمونيزم څخه ځان قربانولو اودهغه دپايښت لپاره يې خپلې وينې توېولې نن هماغه انسانان پخپله دکمونيزم سوسياليزم پرخلاف شول اوجهان ته يې قولاً اوفعلاً وروښودله چې دسوسياليزم کمونيزم پلاټونه اوطرحې بې اساسه اوبې کفايته دي يونوی سيستم اوپلان پکاردی چې دژوند ضرورتونه او اړتياوې وربانډې حل کړل شي .

نوپه ډاګه جوته شوه چې دانسان عقل انسان له پاره کامل رهنماندی ، داچې عقل په دنيا کې ددنياوي کارونو دسمبالولو جوګه ندی داخرت په باب به څه فيصله وکړي؟

چې تصور بې هم دعقل دتوان اووس څخه پورته دی دلته لازم ګڼم چې دعقل مرتبې او مقام ته هم لنډ شان اشاره وکړم .

دعقل مرتبه : عقل خادم دی مخدوم نه دی يعنې عقل دشريعت دغوښتنې سره سم دوحې لپاره خدمت کوي عقل دوسيلې حيثيت لري پدې معنی چې عقل به دکشتۍ په څير پخپلو اوږوباندې وحې او شريعت سپروي اوددې په مخکې به پخپل ټول توان سره ځغلي ترڅو دخدای (ج) شريعت په هغه طريقه اوشکل خپلو افرادو ته ورسول شي چې څنګه دوحې غوښتنه وي .

لنډه داچې بايد دالهي احکامو دصحيح عملي کولو لپاره په ټولو ساحو کې دعقل څخه هماغه ډول کارواخستل شي چې څنګه يې شريعت غواړي اوپه ځانګړي توګه بايد دعقل څخه صادروشوو فيصلوته چې شرعي منشأ اونبستې ونلري پاملرنه ونشي ځکه چې ددې پورته څوټکو څخه پرته دعقل لپاره څه وظيفه نشته فقط عقل دوحی اوشريعت درسا اوښه طرز دعملي کولو يوه اله ده اوبس.

عقل متغير دی وحی ثابته اوقايمه ده عقل دشريعت داحکامو ثابتوونکی نه دی او وحی شرعی احکام ثابتول په غاړه لری عقل خطا کيږي په وحی کې دخطا کيدو امکان نشته يوازی عقل پوره هدايت اولارښودنه دی کمی پکی موجوددی

نو نتيجه داکيږي چې عقل دوحې خدمت کوونکی دی عقل دسپرلې اله ده وحې سپره ده عقل متغير دی وحې ثابته اوقايمه ده عقل دشريعت داحکامو ثابتوونکی نه دی او وحې شرعي احکام ثابتول په غاړه لري عقل خطا کيږي په وحې کې دخطا کيدو امکان نشته يوازې عقل پوره هدايت اولارښودنه دی کمی پکې موجوددی نوبو کامل شی دعقل دلارښوونې لپاره ضروري دی چې هغه دالهي وحې او شريعت محمدي (ص) څخه عبارت دی.

دوهمه برخه :

کمونیزم یا د تقابل او انساني فطرت ضد ایډیا

عبدالوکیل

پـه اقتصادي اړخ کې:

پر انسانانو باندې دکمونیزم دفشار یوه وسیله اقتصاددی چې کمونستان یې دتولید پر وسایلو باند ې ټولنیزمالکیت بولي په بله ژبه په کمونیزم کې ټول کارگران ، بزگران اونور کار کوونکي دکمونست گوند اودولت دمزدورانو په څیر عمل کوي اوهیڅ شخص ددې اجازه نلري چې خصوصي مالکیت ولري . په واقعیت کې دکمونیزم دغه اصل هم دیو هیواد دکار کوونکو دگړندي اونوښتگر فعالیت په مقابل کې خنډ گرځي اوپه نتیجه کې دتولید ، اقتصاد اوتخنیکي پرمختگ دوروسته پاتې کیدو سبب کیږي.دادانسانانو غوښتنه ده چې لوړ اوقوي اقتصاد اوزیاتې پانگې ولري . نوځکه دنورو اهدافو په څنگ کې دهغې دلاس ته راوړلو په خاطر په دوامداره توگه هڅه اوتلاش کوي اودبشر دغه فطري خصوصیات په مجموع کې ټولنه په یوه مثبت اوارزښتناکه جنبش اوگړندي خوځښت راولي چې په نتیجه کې په ټولنه کې داقتصاد اوتخنیك دلوړتیا اونعمتونو دپریمانتیا سبب کیږي .داسلام سپڅلی دین اوپخپل وخت کې ټولو الهي ادیانو انسانان دې ته رابللي چې دیو اوبل سره دژوند په کارونو کې معاونت اوهمکاري وکړي اوهیڅ انسان هغسې کړه وړه ترسره نکړي چې دټولنې اویانورو مسلمانانو اوبنده گانو ته دزیان باعث شي اودبشر په تاریخ اوهم په نننۍ نړۍ کې بې شمیره نمونې شته چې خدای (ج) ته معتقدو انسانانو دالله (ج) درضالپاره بې دریغه ځاني اومالي قرباني ورکړې دي ، خودخدای (ج) حکمونه بې انتها دي . خدای (ج) ټولو انسانانو ته بلنه ورکوي چې دبل چا کورنی اوژوند ته یې په درنه سترگه وگوري ، اوهغه څه چې دځان لپاره یې غوره بولي دنورولپاره یې هم خوښ کړي .

که مونږ داقتصادي تحرك جریان ته نظر واچوو دیوې دولتي فابریکې دریئس په تناسب دهغې فابریکې رئیس چې نوموړې فابریکه شخصاً دده مالکیت وي ، جدي اوگړندی فعالیت کوي اودانسان فطري علایق هغه دتولیددکمیت اوکیفیت دلوړوالي اوښه والي پخاطر هڅوي دې په څنگ کې ممکنه ده هغه انسان کوم چې دالله (ج) واحد

ذات ته معتقدوي دالله (ج) درضا په خاطر ټولنيز يا دولتي اودنورو اشخاصو له اقتصاد اودارائې سره دخپل شخصي ياخصوصي مال په ډول احتياط وکړي خوپه ده کې دېټ شوي احساس مراندې همیش دهغه دشخصي اوخصوصي مال اودارائې په طرف کېږې وي . نوکه چيرې دغه علايق دکمونستانو يامادہ پر ستواوبې دينه انسانانو په اعمالو اوکړو وړو کې تر څيرنې لاندې ونيسو نوبيا دليل او برهان ته ځای نه پاتې کيږي اوپه ډاګه څرګنديږي چې دکمونستانو لپاره داسې انګيزه وجود نلري ترڅو هغوی دټولنې ګټو ساتلو ته وهڅوي نوددې لپاره چې دکمونستانو دغلا ، لوټمارې اوفساد مخه ونيوله شي بايد په دوامداره ډول اودتل لپاره ترجدي کنترول لاندې ونيول شي اوورسپارل شوي دندې په جدي ډول سره کنترول او تفتيش شي . خوعمل اوتجربه داپه ګوته کوي چې که چيرې دچاسره معنوي پانګه وجود ونلري يعنې په الله(ج) باور اودهغه څخه ويره اوترس نه وي موجود ، دډيرو پرمختللو کمپيوترونو اودکنترول اوتفتيش پيچلو اوقوي دولتي دستګاؤ هم ددې قدرت نه دی پيداکړی چې په قناعت ببښونکي ډول سره داختلاس ، بډو خوړلو ، غلا ، قاچاق اوډول ډول ټولنيزو فسادونو مخه ونيسي . په دې ترتيب سره دکمونستي اقتصاد اودخصوصي اقتصادي مالکيت په اړوند يادشوي مثالونه اودې ته ورته مطالب هغه څه دي چې نور مال انسان ترې انکارنه شي کولی اوهر انسان يې په خپل وجود اوفطرت کې بې له زيات غور اودقت څخه احساس کولی شي . ددغه حقيقت چې کمونستي ايډيا داقتصادي پرمختګ اوانساني فطرت سره په تضاد کې قرار لري دلاښه ثبوت لپاره داقتصاد په اړخونو کې دکمونستي ايډيا نيمګړتيا ؤ ته په لاندې ډول اشاره کيږي:

دکمونستي دولتونو مرکزي پلان :

دکمونستي دولتونو له هغې ډلې څخه دروس په کمونستي خونړی امپراتورۍ کې توليدات دمرکزي پلان په اړوند صورت نيسي . څرنګه چې دمرکزي پلان طرحه کوونکي دتوليدي مؤسسو اوبازارسره په مستقيم ډول تماس نه لري نو يو شمير توليدي مؤسسو ته په ورکړل شوي پلان کې ددوی دامکاناتو په نسبت کمواولږو توليداتو ته ځای ور کول کيږي اودا پوند ه توليدکوونکو دلتې باعث کيږي اوياداچې يوشمير توليدي مؤسسو ته ددوی دامکاناتو په تناسب زياتوتوليداتو ته پلان ورکول کيږي چې داکار بې له دې چې دتوليد کيفيت راټيټ کړي بله نتيجه نلري . همدا اودې ته ورته نور عوامل دي چې دکمونستي هيوادونو په ځانګړي توګه دروسي اجناسو کيفيت دغير کمونستي هيوادونو د ليلامي اجناسو په نسبت هم ټيټ اوپه کمي لحاظ دټولنې اړتياوې نشي پوره کولی په دې دليل په دې له (۷۰) کالوڅخه زياته موده کې دکمونيزم رنځور اقتصادي سستم لږ ترلږه هغومره هم ونه شول کولی چې دخپلو ولسونو دژوند ورځنۍ اړتياوې پوره کړای شي ځکه خوخلك دضرورت وړموادو دپيرودلو په منظور اوږده صفونه جوړوي اودڅو ساعتونو له انتظاره څخه وروسته دانتظار صفونو جوړوونکو له ډلوڅخه زيات شمير تش لاسونه ترې راستانه کيږي . همدارنګه دتوليد کوونکو د ابتکار اوګړندي توليدي فعاليت پخاطر دغير موثر ولاروچارو څخه

کاراخلي چې له هغې جملې څخه تولید کوونکوته دکمونست گوند اودولت بیرغونه ، ستاین لیکونه ، القاب ، دغیر قیمتي اوغیر نجیبه فلزاتو څخه جوړشوي نښانونه او مډالونه ، دمارکس اولنین دخټو اویاچدنو څخه جوړ ي شوي مجسمې ورکوي نوموړي شیان دتولید کوونکو په ژوند کې ډیر کم اقتصادي مثبت بدلون هم نه راولي نوځکه دتولید په ښه والي اودهغه دکیفیت په لوړوالي کې رغنده رول نلري .خو سیبیریا ته دشاقه کارونو دپاره دلیږلو اودې ته ورته نورو تهدیدونو له ویرې تریوه حده پورې گړندي کارکولو ته مجبوریږي اما دهغوی دابتکاري اونوښتگرفعالیت روحیه کومه چې داجناسو دکیفیت دښه والي باعث کیږي لاپکې مري.

دکاردسیالی غلطه طریقه :

په کمونستي هیوادونو کې دتولیدي مؤسسو ترمنځ دکار سیالی په نوم بله هغه غیر موثره طریقه ده له کومې څخه چې دتولید دکیفیت دښه والي اوکمیت دډیروالي په اړوند کاراخلي او دکمونستي ایډیاطرفداران دغه شیوه دتولید کوونکو دتشویق اودتولید دچټك پرمختگ لپاره ډیره په زړه پورې بولي دغه سیالي په کمونستي هیوادونو خصوصا روس کې په لاندې شکل عملي کیږي .

دروس کمونستي گوند اودولت له خوا ټولوتولیدي مؤسسو ته دتولید دکمیت اونوعیت کلنی پلان ورکول کیږي اودکال په پای کې تولیدي مؤسسوته دورکړل شوی پلان عملي کیدل ارزیابي کوي نو کومو تولیدي مؤسسو چې ورکړل شوی پلان دکمونست گوند اودولت له نظرسره سم عملي کړی وي دکارلوموړی مقام گټي له دي امله دمؤسسې رئیس ته دهیئت لخوا یویادوه لویشتې بیرغ ورکول کیږي څرنگه چې ورکړل شوی بیرغ په اصطلاح دکارسیالی گټونکي مؤسسې کارکوونکو ته په مادي لحاظ کومه گټه نه رسوي اودژوند عاجل ضروریتونه یې په لازم ډول سره ندي رفع شوي نوځکه یې دابتکاري اونوښتگرې قوې پیاوړتیا او په مجموع کې دتولید دکمیت او کیفیت په لوړیدو کې مثبت اورغنده رول نه لوبوي .

دتنخوا گانو توپیر :

دکمونستي دولتونو له هغې ډلې څخه په روس کې دکمونیزم بې عدالتي دټولنې ټول اوسیدونکي په عمل کې ویني . په ۱۹۸۳ م کال کې دهغو تولید کوونکو میاشتنی مزدوري چې دسهار څخه ترماښامه پورې په کارکولو لگیا ؤ له ۷۰ څخه تر ۱۰۰ روبلو پورې رسیده (روبل دروسانو دپولي واحد نوم دی په ۱۹۸۳ م کال کې دروس په توروبازارونو کې یو امریکایي ډالر دځلورو روبلو په مقابل کې تبادله کیده خوپه اوسنی مرحله کې یو امریکایي ډالر د۳۰ روبلو په مقابل کې تبادله کیږي) په داسې حال کې چې په ۱۹۸۳ م کال کی دروسیې دکمونست گوند دمرکزي کمیټې هرغړي میاشتنی معاش ۱۱۰۰ روبله ؤ او داردو ، پولیسو خصوصا دکی ، جی ، بی منسوبینو معاشونه خورا لوړ او دکمونست گوند دحرفوي غړو سره سیالي کوي په دې ډول سره دکمونستي هیوادونو تولید کوونکي په مادي اومعنوي لحاظ لکه څنگه چې لازم دي نه تشویق کیږي اودهغوی معنوي اومادي خواري دټولنې څپاند اقتصادي اوټولنیز پرمختگ جریان وروو او ضعیفوی .

مجاهدین په پوځي لحاظ شرمیدلي ماتې سره

د(المرابطون) مجلي چي په عربي ژبه په پيښور كي خپريږي دخوست لـــه فاتح الحاج مولوي جلال الدين حقاني سره يوه مركه كړي چي موږ يي دهغه پښتو متن دلته خپروو .

استاد حقانی موږته دخپل دجهاد دپیل خبره داسی وکړه : موږ جهاد په ډیر بسیط اوساده شکل دافغانستان له سرحداتو نه شروع کړ،له هغه نه وروسته موږ میرانشاه ، کابل اوخوست کی مرکزونه جوړکړل چی ددی مرکزونو نه زموږ مجاهدین دسریه په شکل داخل ته تلل اوعملیات به یی اجرا کول ،دغه کارځلور کاله دوام وموند خو کله چی دتره کی حکومت رامنځ ته شو نو موږ په عمومی توګه دحکمتیار ، ربانی اوخالص په اتفاق داخل ته ولاړو. اوپداسی حال کی موږ غرونو کی مرکزونه جوړول چی هیڅ ډول وسله اووسیله مونه لرله د۱۹۷۸ کال په اتمه میاشت کی موږ خپل یو سلسله عملیات پیل کړل چی ډیر کامیاب وو اوموږ وکولای شول یو مقدار زیات غنایم ترلاسه کړو چی دهغی په واسطه موږ وکولای شول ددښمن ډیر قوی مرکزونه لکه چپه اوځدران فتح کړو او موږددی مرکزونو نه ډیری وسلی لکه دهشکه ، هاوان او...ترلاسه کړی چی موږ مخکی تردی هیڅ نه وی لیدلی .زموږ دغو عملیاتو تر کال ۱۹۷۹ پوری دوام درلود ، خو کله چی روسانو زموږ پرهیواد مستقیم یرغل وکړ نوزموږ جهاد لکه چی تاسی پوهیږی بل رنګ ځانته غوره کړ .

حقانی دجهاد له ټولو قوماندانانو سره ښی اړیکی لری چی دقوماندانانو دسرتاسری شورا دمشرتابه په ځنګ دخوست دقوماندانانو امیر هم ټاکل شوی دی.

المرابطون : — موږتاسو ته د خوست دفتحی مبارکی وایو ، اودلوی خدای نه غواړو چی په دی نږدی وختونو کی کابل ، اونور

کولی شي دښمن له مخامخ کړي

دکفارو ترتسلط لاندی ولایتونه هم فتحه شی مهربانی وکړی لطفاً موږ ته دخوست دستراتیژیکی اهمیت په اړه اودافغانستان پرمسئله دخوست دفتحی داغیزو په هکله که معلومات راکړی ؟

استاد حقانی :- لکه چی پوهیږی خوست دافغانستان دڅلورو مهمو ستراتیژیکو منطقو څخه دی چی ډیر مهم اوحیاتی ارځښت لری .له همدی کبله دکابل حکومت دغه منطقه په ډیرو پرمخ تللو وسلو مجهز کړی وه .

دخوست اهمیت په دی که هم دی چی له پاکستان سره سرحدی پوله دموټرو اوټانکونو دلسونه زیات سرکونه لری اوهمدارنگه دافغانستان داخل ته یوولس نوری لاری هم لری چی ددی لارو اهمیت دزخمیانو اوشهیدانو په نقلولو اودوسلو دلیږدولو په وخت کی ښه معلومیږی .

بله داچی ددی ځای خلك په شجاعت اوجنگ کی هم ښه مهارت لری،په تیرو وختونو کی هم دوی وو چی انگریزانو ته یی سخت شکست ورکړ اوهغوی یی له هغه ځای نه میرانشاه اوبیا بنوں ته په بیرته تلو مجبور کړل .

خوست پس له کابل نه دمزدور رژیم دویم مهم مرکز وو چی هرډول وسله ، امکانات اودجاسوسانو اوپیسو په لیږلو یی دغه نقطه ډیره زیاته تقویه کړی وه .

خوست زراعتی منطقه هم ده ډیری ونی لری چی دفتحی نه وروسته دامنیت له مخی دمجاهدینو له پاره ډیره مهمه سیمه گڼله کیږی داسیمه ددښمن له نژدی مرکزونو څخه لری اوشاوخوا یی لوی لوی غرونه پراته دی .

همداکافی ده چی پوه شو دښمن فقط دوه واره دلته راغلی ،یو وار دځمکنیو له لاری اوبل وار دځائیو دلاری نه اوشاید همدا موضوع وی چی خوست ته یی جهانی حیثیت ورکړی دی .

ددنیا خلکو ویل : که چیری مجاهدین دخوست په فتح کی بریالی نشی نو دوی به کابل چیری هم فتح نکړی .

تعجب به ونکړی که پوه شی چی خلکو خوست ته وړوکی مسکو وایه ولی چی دلته ډیر زیات کمونستان وو دکابل دحکومت اکثره جنرالان ، مشران او وزیران دهمدی منطقی څخه وو چی دهغوی اخرنی




89 8 10

دمنبع الجهاد البم



فردنجیب دی .

موږ به اوس ددی منطقی زراعت اوتجارت ته ښه پاملرنه کوو او همداراز به موږ دخوست له لارو چی منجل ، نادرشاه کوټ ، زرمت ، وردگو ، غزنی اونورو منطقو ته تللی دی سمه اودرسته استفاده کوو څو په ټول افغانستان کی دجهاد په گټه تری کارواخستل شی .

المرابطون :- دخوست فتح د خدای لوی احسان وو ، اوټول هغه دسایس اوتوطئی لکه دسیاسی حل خبره ، دظاهرشاه بیرته راتگ ، دغرب اودهغه دملگرو سازشونه یی شنډ کړل ، په دی باره کی ستاسو نظر څرنگه دی ؟

خوست پس له کابل نه دمزدور رژیم دویم مهم مرکز وو چی هرډول وسله ، امکانات اوجاسوسانو اوپیسو په لیږلو یی دغه نقطه ډیره زیاته تقویه کړی وه

استاد حقانی : داټول دخدای په فضل وشول ،ددښمن دماتی نه وروسته په خوست کی بیله شکه باید غرب ته وویل شی چی مجاهدین په پوځی لحاظ کولی شی دښمن له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړی په رښتیا هم چی دخوست له فتحی سره دنړیوال استعمار توطئی اودسیسی له ناکامی سره مخامخ شوی .

دخدای په فضل اوس دمجاهدینوقواوی په گردیز کی نظرخوست ته څو چنده زیاتی اوپیاوړی شوی دی ، موږ به دخوست دلارو نه داستفادی قدر دنورو ځایونو په فتح کولو کی هیرنه کړواودا کار زموږ دفتحی وخت رالنډ وی .

المرابطون :- موږ دخوست ښار ننداره وکړه اودالویه فتحه مو په خپلو سترگو ولیدله که مهربانی وکړی موږ ته دخوست دامنیت اواداری په هکله توضیحات راکړی ؟

استاد حقانی :- پدی رابطه نن دخوست دشورا غونډه جوړیدونکی ده موږ لدی مخکی هم په ډیرو مسایلو موافقی ته هم رسیدلی یو چی په هغه کی دمهاجرینو بیرته ستنیدل او دولجه شوی مالونو دټولولو لپاره دیوی کمیتی تشکیلول دی ترڅوثقیله وسله غونډه اوپر گردیز دجگړی له پاره اماده کړی شی اوهمداراز موږ دمنطقی دادارې اوامنیت دنیولو په رابطه هم خبری وکړی اوپه یوه واحده اداره موافقی ته رسیدلی یو .

المرابطون :- غواړم پوه شم چې تاسو داداري اومحلي محاكمو په رابطه څه طريقه غوره كړيده او تاسو دلته څرنگه اوپه څه طريقه اسلامي احكام تطبيقوي ؟

استاد حقاني :- دلته يوه شرعي محكمه شته چې ددې امورو مسؤليت يې په غاړه دې اودشريعت تطبيق كول په ټول افغانستان كې دكاملې فتحې نه وروسته اودمجاهدينو دحكومت دتشكيليدونه پس جاري كيدي شي ان شاالله تعالى .

المرابطون :- غواړم چې د خوست دمحلي حكومت په باره كې اوهمدارنگه دواحدي اداري دچارو دپر مختگ په باره كې معلومات ترلاسه كړم ؟

استاد حقاني :- موږ دغنائمو ، اسيرانو او دخوست دادارې په باره كې متحد دريځ لرو اودمسووليتونو تاكنه دټولو هغوقوتونو لخوا بنه نيولې چې دخوست په فتح كې يې برخه اخيستې ده.

همدارنگه موږ دشفاخاني ، راډيو اوداسې نورو عامه شتمنيو په باره كې دافيصله كړې چې دا ټول به دراتلونكې اسلامي حكومت وي نه داچې په تنظيمونو پورې به تړل كيږي .

المرابطون :- موږ تاسو له خوست نه لرې بيايو ، اويو بل سوال دهغه خطرونو په ارتباط له تاسو نه كوو كوم چې په ټول امت پورې اړه لرې هغه داچې دجورج بش دامن دانوي نظام چې دهغه لخوا وضع شوې ، ستاسو په نظر څرنگه كولاې شو چې ددې خطراو مشقت نه نجات حاصل كړو ځكه چې داخطراوس زموږ راتلونكې ترتهديد لاندې نيولې ده ؟

استاد حقاني :- والله چې دغه مسأله زما دفكر نه كله هم لرې شوې نه ده اولكه چې ماهميشه داخبره كړيده چې دكفارو اومكرحيلې موږ ته قران بيان كړيدي چې فرمايي :- ولن ترضى

عنك اليهود ولن النصرى حتى تتبع ملتهم .

موږ ددی خطرونو مقابله ترهغی پوری نشو کولای ترڅو چی دمسلمانانو په صفونو کی وحدت او یووالی نه وی رامنځ ته شوی ،ترڅو چی زموږ په قیادت کی وحدت نه وی راغلی اوپه سیاسی اوشرعی ساحه کی یو شوی نه یو، موږ ددغو حربو اوخطرونو مخه نشو نیولی ، اسلامی امت باید له روس امریکا پرته یو ځانګړی قوت او تشخص خپل کړی او یو متحد اسلامی قیادت رامنځ ته کړی زما دخبرو څرګند مثال دخوست فتحه ده ، چی کله مجاهدین متحد شول نود دښمن توطئی یی شنډی کړی اوخدای تعالی نصرت ددوی په برخه کړ .

المرابطون :- که چیری دهغو مستضعفو عربو وروڼو دپاره کوم چی دخپلو بی دینو او مرتدو مشرانو دظلمونو لاندی شپی ورځی تیروی څه ویل لری نو مهربانی وکړی ؟

استاد حقانی :- زموږ عرب وروڼه وایی چی موږ دجهاد له پاره افغانستان ته څو داسره لدی چی دوی کولی شی په خپلو هیوادونو کی جهاد وکړی زما باور دی که یوه ورځ کی ډله هم په دغو هیوادونو کی دجهاد له پاره را ووځی نو دجهاد په برکت به داټول مصیبتونه او تکالیف الله تعالی لیری کړی لکه چی له موږ څخه یی دجهاد په واسطه لیری کړل .

سره لدی چی زموږ عرب وروڼه په مالی او اقتصادی لحاظ ډیر غښتلی اوتوانمن دی ، زه چی اوله ورځ دکورنه جهاد ته لاړم موږ دولس کسه وو ، دویم وار چی ووتو (٧٠) کسان وو .

زموږ سره نه وسله وه ، نه مخابره ، نه شفاخانه ، نه طبیب ، نه مهمات او نه ... موږ دخدای په فضل جهاد پیل کړ، اودابه مو ویل چی خدای (ج) موږ سره په قران کی وعده کړی چی فرمایی : والذین جاهدو افینا لنهدینهم سبلنا وإن الله لمع المحسنین ».

المرابطون :- ایا عرب وروڼه په خپلو ملکونو کی جهاد پیل کړی اویاداچی دلته جهاد ته ادامه ورکړی ترڅو چی دخدای دحکم مطابق دلته یو اسلامی حکومت منځ ته راشی ؟

استاد حقانی : زه نه وایم چی دوی په خپلو ملکونو کی جهاد دافغانستان دقضیی ترحل کیدو پوری معطل کړی اودارنګه داهم نه وایم چی پدغو ټولو ملکونو کی دی په یو وار جهاد پیل شی ، داسی کیدای شی چی مثلاً په یمن ، سوریه او لیبیا کی دابتدائی مرحلی په شکل جهاد پیل شی ، بیا وروسته په عراق ، تونس اونوروهیوادونو کی .

المُرابِطُون : - ددی مرکی په اخر کی زه ستاسو مننه کوم اوتاسو ته دلوی خدای نه اجرغواړم چی تاسو دخوست دفتحی له کبله ددنیا دټولو مسلمانانو دزړه خفګان لری کړ ، اوموږ تاسی دهغو مسلمانانو امیر ګڼو ، کوم چی دهغوی دعزت سره لوبی کیږی او دظالمانو په زندانوکی اوسیږی . اوپه حقیقت کی دخوست فتح دخدای تعالی دوعدی مطابق چی له مسلمانانوسره یی کړی ده یو الهی نصرت ګڼو .

استاد حقانی:- خدای(ج) مرستندوی دی .

دریمه برخه :

لیکنه : جلال العالم
ژباړه : سلطان محمود صلاح

داسلام په اړه دصلیبیانو اویهودیانو نظریې

دلته داسوال پیداکیږي چې غربیان داسلامي نړۍ په خلاف صلیبي جګړه ولې اودڅه لپاره پیل کوي ؟ ایا اسلام له مسیحت نه ځمکې نیولې اوملتونه یې ورنه بیل کړي بیا غرب هم مجبورشوی چې دجګړې اوربل کړي اوکه څنګه ؟؟

خودغربي مشرانو خبرې اوکړه داثابتوي چې داسلامي نړۍ په خلاف ددې جګړې عوامل نوردي ... هغوی (صلیبیان) اسلام دخپلو شومو اهدافو دتحقیق په لاره کې لوی خنډ بولي ، اودا عقیده لري چې همدا اسلام دی چې نه پریږدي ټوله نړۍ داستعمار ترقبضې لاندې راشي : صلیبیان اسلامُ استعمار په وړاندې یوازینی خنډ اوپوخ دیوال بولي .

لورنس براون وایي : داروپایي استعمار په وړاندې یوازیني خنډ داسلام دین دی (۱)

دانګلستان پخوانی صدراعظم ګلاډ ستون وایي : ترڅوچې داقران دمسلمانانو په لاس کې موجود وي ترهغې به اروپا په ختیځ باندې قبضه ونشي کړای (۲) .

دفرانسې مشر په الجزائر باندې دفرانسوي استعمار دسلمې کلیزې په مناسبت وویل :

ترڅوچې مسلمانان قرانکریم تلاوت کوي اوپه عربي ژبه خبرې کوي ، ترهغې پورې مونږ وربانده غلبه نشوموندلای ، نوپرمونږ ده چې قرانکریم ورنه لیرې کړو اوعربي ژبه ورنه پردې کړو . (۳)

هغوی داهم وایي چې همدااسلام دی چې دکمونیزم په وړاندې دریږي :

دازبکستان دکمونستي ګوند ورځپاڼې کزیل ازبکستان دخپلې (۲۲) ګڼې چې د ۱۹۵۲ م کال د(مې) په میاشت کې خپره شوه په سرمقاله کې لیکلي وو : « ترڅو چې اسلام له مینځه نه وي تللې ترهغې پورې دکمونیزم حاکمیت ناممکن دی »(٤)

هغوی پدې هم ټینګه عقیده لري چې اسلام نه پریږدي مسیحیت خور اواستعمار اسلامي نړۍ ښکیل کړي .

دمسیحي دین یومبشر وایي :

په اسلام کې داسې یو قوت نغښتی دی چې نه پریږدي مسیحیت په نړۍ کې خورشي ، اودهمدې قوت په واسطه ډیر ځایونه دنصرانیت له قبضې نه وتلي دي (٥) .

اشعیابومان پخپله یوه مقاله کی چی په (العالم الاسلامی) نومی تبشیری مسیحی مجله کی خپره شوی وه لیکلی ؤ: کله هم داسی نده پیښه شوی چی یو نصرانی ولس له اسلام منلو وروسته بیرته مسیحی دین قبول کړی وی .(٦)

خروسچف له الجزائری انقلابیونو سره خپلو خبرو په ترځ کی ویلی ؤ : اسلام انقلابی دین دی ، ځکه دادین دمظلومو او پاځیدلو ولسونو دین دی ،داداسي یودین دي چي تـل دصلیبیت اوصلیبی اروپا ترتیریو اوظلمونو لاندی راځی .(٧)

داسلام ددښمنانو بله عقیده داده چی وایی اسلام دصهیونیزم اواسرائیلو په وړاندی یوازینی خطر دی : داسرئیلو پخوانی صدراعظم (ابن گوریون) وایی : مونږ ترټولو زیات لدی نه ویریږو چی هسی نه په عربی نړی کی یو نوی محمد راپیدا شی .(٨)

یوعربی صاحب منصب کوم چی په (١٩٤٨) م.کال کی دیهودانو په لاس.کی لویدلی ؤ وایی: مخکی لدینه چی ازاد شم دیهودولښکرو قوماندان خپل دفتر ته وغوښتلم اوپه ډیره نرمه لهجه یی راسره خبری پیل کړی .

مصری صاحب منصب وایی : ورته ومی ویل که دپوښتنی حق ولرم ، نو داپوښتم چی تاسی (یهودانو) په صورباهرنومی کلی باندی ولی حملی ونکړی ؟

صورباهر کلی القدس شریف ته نژدی پروت دی .

یهودی قوماندان له ډیرځنډ نه وروسته راته وویل : په صراحت باید درته ووایم چی مونږ په نوموړی کلی حمله ونکړه ځکه چی هلته دمتعصبو فداکارو مسلمانانو یولوی قوت پروت ؤ. مصری صاحب منصب حیران شو او بله پوښتنه یی وکړه : نوپدی کی څه ؤ،

تاسی (یهودانو) په داسی ځایونو حملی وکړی چی هلته لدی نه زیات قوتونه پراته وو...

اوحالات یی لدینه مشکل وو؟! .

اسرائیلی قوماندان په ځواب کی ورته وویل : ستاخبره رښتیا ده ، خومونږ ته دا ثابته ده چی دا فداکاراو متعصب مسلمانان له نورو نظامی جنگیالیو سره ډیر توپیر لری ، ځکه هغوی جگړه داسی وظیفه نه گڼی چی دورکړشو ی امر په رڼاکی یی سرته ورسوی بلکه هغوی ته جگړه لکه تفریح داسی ښکار ی چی په ډیر شوق اوذوق سره وردانگی ، اوهغوی پدی کی زمونږ سپاهیانوته ورته دی هغه سپاهیان کوم چی په تینگه عقیده سره داسرائیلو ددفاع پخاطر جگړه کوی .

خوزمونږ دسپاهیانو اوددی متعصبو مسلمانانو ترمینځ هم لوی توپیر وجود لری هغه داچی زمونږ لښکری دیوه وطن دجوړولو لپاره جگړه کوی تر څو پکی واوسیږی ، پداسی حال کی چی متعصب فداکار مسلمانان ددی پخاطر جگړی کوی ترڅوومړی (شهیدان شی)

هغوی مرگ لټوی ، او دلیونیانو اویا شیطانانو په شان وړپسی منډی وهی ، نوپداسی ډول.خلکو باندی حمله کول لـه وحشی حیواناتو څخه ډك ځنگل کی ننوتلو په شان ده ، اومونږنه غواړو ځان له دومره لوی خطر سره مخامخ کړو ، اوبله داچی که مونږ په هغوی حمله وکړو نوبیابه راته په ډیرو نورو ځایونو کی هم دغم اوروڼه بل شی ، هرڅه به رابرباد کړی ، اوکه بیادهمدوی وی .

مصری صاحب منصب له ډیری حیرانتیا سره سره وغوښتل چی له فداکارو مسلمانانونه دیهودانو دزیاتی ویری په سبب اوعلت باندی ځان پوه کړی نویی ورنه وپوښتل : رښتیا به راته وایی ، پدی خلکو باندی څه شوی چی مرگ ورته دومره گران شویدی او داسی یوقوت ورنه جوړشویدی چی هیڅ څوك یی مخی ته نشی دریدای ؟

دیهودی قوماندان هسی له خولی نه داخبره راووتله چی محترم صاحب منصب دا اسلامی دین . . . ژربی خوله ونیوه اوخبره یی په بله واړوله ویی ویل :

هغوی ته دازمینه نده مساعده شوی ، ترڅو ستاپه شان داټول کارونه اوامور په عقل اوپوهی سره وڅیړی اودژوند په واقعیتونو ځان پوه کړی ، اولدی خرافاتو نه ازاد شی هغوی لاتراوسه هم له مرګه نه ووروسته دجنت اوداسی نورو اسلامی وعدو قربانی کیږی.

یهودی قوماندان داسی زیاته کړه : دامتعصب مسلمانان دسولی اوامنیت دښمنان دی باید مونږ اوتاسی ددوی په خلاف لاسونه سره ورکړو ځکه هغوی زمونږ اوستاسی ترمینځ دوستی او اړیکو ټینګولو په لارکی دستر خنډ حیثیت لری .

یهودی قوماندان وغوښتل مصری صاحب منصب هم دهغوی په خلاف وهڅوی نویی ورته وویل : محترم صاحب منصب : باوروکړه چی دمتعصبو وجود نه یوازی زمونږ لپاره خطر دی ،بلکه دهغوی خطر تاسی هم تهدیدوی ، اوستاسی په ملکونو کی ترهغی ارامی نه شی راتلی ترڅومو هغوی نه وی ورک کړی ، او ترهغی به تاسی سبه ورځ ونشی لیدای ترڅو مودبوی دجهاد او دالله په لارکی دشهادت شعارونه له مینځه نه وی وړی ، اوتر څوچی ددوی د شلمی پیړی علم او ملګرو ملتونو او نړیوالی نظریی مخالف منطق نه وی ورمات کړی .

دصیهونیزم سرلښکر خپلی خبری داسی پای ته ورسولی : محترم ضابط ، ستاله لیدونه ډیر خوښ شوم ، ستاسره داخرګندی خبری هم ډیری خوږی وی ، هیله من یم په راتلونکی کی بیا سره ووینو ، ترڅو داسی یوه فضا مینځه راوړو چی هلته نور دجهاد اوشهادت ناری وهونکی متعصب مسلمانان په مینځ کی نوی .(۹)

داسلام ددښمنانو دا ایمان دی چی داسرائیلو بقا دمسلمانانو په له مینځه وړلو کی نغښتی ده : صیهونستی لیکوال «ایرل بوګر» پخپل (العهدوالسیف) نومی کتاب چی په کال ۱۹۶۵ م کال کی خپورشوی لیکلی : هغه اصل اومبدأ چی داسرائیلو دوجود له لومړنی ورځی نه ددی دولت بنیاد وربانندی ایښودل شوی دادی چی عربستان باید یووخت اسرائیلو ته دملګرتیا لاس ورکړی ، نوددی پخاطر چی دا ارزو تحقیق ومومی باید ټول هغه قوتونه له مینځه لاړ شی کوم چی په عربی نړی کی یهودی ضد مفکوره خوروی ، اودا عبارت له هغه ارتجاعی قوتونو څخه دی کوم چی دینی عالمان اومشایخ یی نمایندګی کوی .(۱۰)

کله چی جیمی کارتر دامریکا رئیس جمهور وټاکل شو اسحاق رابین دهغی ورځی په سبا وویل : دیهودی ولس ترټولو لوی مشکل دادی چی داسلام دین لاتر اوسه پوری داشاعت اوخوریدو په حال کی دی ، اودکوم بدلون منلوته هم تیارندی ، اودا به دډیروخت خبره وی چی اسلام وسله په ځمکه کیږدی .

ماخذ

۱- التبشیروالاستعمار ص : ۱۸۴

۲- الاسلام علی مفترق الطرق محمداسد ص :۳۹

۳- المنار - عدد ۹-۱۱-۱۹۶۲

٤- الاسلام والتمنیة الاقتصادیة - جاك اوستری -٥٦

٥- الاسلام والتمنیة الاقتصادیة - جاك اوستری -٥٦

٦- جذور البلاء :ص ۲۰۱

٧- القومیة والغزوالفکری ص: ٨٨

٨- جریدة الکفاح الاسلامی لعام ۱۹٥٥ - عدد الأسبوع الثانی من نیسان

٩- مجلة المسلمون - العدد الاول من المجلد الثامن - شهرتموز عام ۱۹٦۳ مع بعض الاختصار بما یناسب المقام

۱۰- الاسلام فی المعترك الحضاری ص :۲۸ (عمرامام الدین الامیری)



وطندار دلیرمن

***

استاد خلیل الله «خلیلی»

وطندار دلیرمن خدابادانگهدارت
طلسم نخوت مزدور استعمار رابشکن
ززندان ناله زنجیرمی آید بگوش امشب
بیك شبخون مردانه درودیوار رابشکن
توچون یك مشت اهن شو سپس باقوت بازو
دماغ دشمن مغرور مردم خوار رابشکن
هزاره کیست ، پشتون کیست ، تاجك چیست ، ازبك چیست
اساس فرقه سازی های استعماری رابشکن
توچون فرزند اسلامی شعارت نیست جزتوحید
زمحراب محمد (ص) پرچم کفار رابشکن
سرازاد گان ملت توحید شد بردار
بیك الله اکبر چوبه های دار رابشکن

زیری

عبدالصمد زمری کاموی

ستوری ددی توری شپې سرپه غورځیدو وینم
ځنځوکی دشین اسمان داغ دسپیدو وینم
سپین سحر راتلونکی دی داتیاری به تیری شي
هرخوابه رنا کاندی داورانکی به دیری شي
ظلم ، بربریت ، شکنجې کله به موهیری شي
دادسور وحشت ماښام نور په تیریدو وینم
بیابه دانسان کلی جوړله انسانانو شي
کوربه دغیورافغان جوړله افغانانو شي
خلاص به دامظلوم ولس نور له شرمښانو شي
سره سړی خواره لیوان ګړ په تښتیدو وینم
بیابه مینه مینه وی ښکلی دالفت فضا
هرځای کی به جوړه وی ښه دمحبت فضا
ورکه به له موږه شی دغه دنفرت فضا
یوله بله خپلو کې خوند د زاریدو وینم
بیابه شنه باغونه وی کل اوګلخانی به وی
وی چی اخوت پکی هغه ترانی به وی
ډکی له خلوص ورورۍ تولی نښانی به وی
خاورو کی ژوندی غماز ټوب په خښیدو وینم
پاکی به له وینو شی داقصاب خانی خونی
جوړباغ اوچمن به شی دغه جیلخانی خونی
داد دار رسن غولی داکشتار خانی خونی
نور دچنګیزی جلاد لاس په ماتیدو وینم
دی نمجنو سترګو ته به سپور وچو شوندو ته
دغو یتیمانو ته په دغو کونډو رنډو ته
دی ماتم ځپلو ته دی خوارو درد مندوته
ویر اوډژرا پسی وار دخندیدو وینم
حق دلته راتلونکی دی تیښته دباطلو ده
دلته دازغو په ځای بیا شپیه دګلوده
کره دفاسدو اوس بار ترینه په تللو ده
خپور دادفساد ټغر نور په ټولیدو وینم
چاچه زوروللی یوچاچه کړولی یو
چاچی په خپل دین وطن ناحقه وژلی یو
اور اوپه سکروټو یی موبزاوولی یو
اوس زه هماغه ظالم خوار په زوریدو وینم
زه «عبدالصمد مچی یی ناست په انتظار کی یم
ویر چی یی راتللو ته خدایزو په تلوار کی یم
داچی استقبال ته یی شعر لیکم په زیار کی یم
ساز دهغی خوږ سرود جوړیه غږیدو وینم
۱۳٦٦/٤/۱۲ ډرکی محاذ

م ، ز – شفيقي

تکل

سبایي پوره کال وروسته زه په هغو درو اوکليو کې گرځيدم ، خوږه دې يوه کال کې هم انقلاب دخپلې بې ساري بدلون راوستونکې طبيعت مظاهره کړې وه اوپير داسې بدلونونه مې ليدل چې باور مې نشو کولی، زما په ذهن کې ددغو کليو دهرکور دروازه نقش وه ځکه زه ديو عالم اخلاص په بدرگه پکې ننوتې يم او ورځ به مې دهرکور دسترو دیوالونو په بيخ کې ... سنکته پورته شوی وم ، خو نن ماډيرې دروازې ونه ليدلی ډيرې خونې هم پخپلو ځايونو وې پاتې اودوخت توپان په داسې کنډرونو بدلې کړې وې چې دبست زړې کلاگانې او لرغونې تمدنونه يې سرې ته وريه يادول .

هوکې ! ډيرې خونې اوکلاگانې نورې په هغه حال چې ماليدلې وې نه وې پاتې يوه نيمه کوټه اونوی نوی کلا مې هم ليدله چې پخوامې نه وه ليدلې اوداهم دانقلاب ! برکت ؤ چې له خلکونه يې زاړه کورونه اخستل اوپه نوی يې وربدلول .

پـه دې دره ځـومره سترتوپان تيرشويدی ؟ زما په ذهن همدغه پوښتنې منگولې ښخولې په هرکلي کې دورانو کورونو اودروازو په ليدو مې همدغه پوښتنه په ماغزو کې اوښته رااوښته اوپه همدغه تصور او خيال زه په هغه کلي ورننوتم .

په هغه کوچنې کلي کې درې څلور کورونه وو ، ښايي دتيرکال زياتې خاطرې زما دهمدغې کلي ديوی ځانگړې کلاسره تړلې وې ، اوچې کله زما سترگې ددغې کلا په خړو پړو ديوالونو باندې ولگيدې ، نو بوډايارگل بابا اوهغه سپين سرې بوډۍ چې انا موبلله دواړه زما دذهن په پرده غبرگ ودريدل ، هغه انا چې لکه زما رښتيانې انا ، هغه دمينې اوخلوص پيکر ديوه پرديس مجاهد دزړه ټکور چې هيڅ کله يې دپرديسي تيارو ته پرينښود اوهغه سپين ږيرې بوډا يارگل باباهم ! چې موږ به کله لږ ناوخته ورپيښ شوو بيابه يې تردېره وخته دخلوص اومحبت نه ډکې گيلې او گرمانې وې، هغه مهربانه بابا اوانا مې سترگو ته ودريدل چې له خپلو ماشومو لمسيانو اوزامنو به يې موږ ته پيروی ، کوچ اونور شيان سپمول ، هغه انا چې تررخصت دمخه به يې په پلو کې دغنمو په نينو دزردالو اوبادام زړې گډکړې وو په مينه مينه به يې په جيبونو کې راواچول اودتوډو توډو دوعاگانو په بدرگه به يې رخصت کړو ، هوکې

نن مې ددغوخړو دیوالونو په لیدوهغه شپې ورځې اوددغه کلي همغه دوه ساده بوډاګان سترګو ته ودریدل ، زما په پښو کې دوړاندې تګ زور نه و نه هم دبېرته ګرځېدو توان ، پردره راغلي توپان پردغه کلي ډیر زور لګولی ؤ ډیرې ډیرې ورانی یې پرځای پریښې وې ، خوماچې ترهرڅه ړومبی کوم بدلون ولید هغه دځانګړې کلا دروازې ترمخ دڅو بیرغونو رپیدل وو چې کلا یې کوم پخواني زیارت ته ورته کړې وه ، بیرغونه رپیدل لکه څوك چې دکلا پرسردتیرشوی توپان یاد ګارونو لیدو ته رابولي .

دکلا دروازه هم همغسې نه وه پاتې دلرګي غټو غټو کونډو اوداوسپنو اوبدو او سوررو پټو یې دتوپان نخښې خوندي ساتلې وې ، په کونډو یې دراکټونو پارچو کړې وړې اوګډې وډې لارې ایستلې وې هسې لارې چې دکلا منځ ترې ښکاره کیده .

لږشیبه وروسته دروازه بېرته شوه ، اوبو په ګونځو ډك تندی ترې راښکاره شو ، زموږ په لیدو یې لږه شیبه کږې وږې ګونځې په یوه اوبل لارې داسې وتښتیدې چې نخښنه یې هم پاتې نه شوه ، خو بیرته بیا سمدستي وریاندې راوګرځیدې ، زموږ مخې ته یوه سپین سرې بوډۍ راوتله هغه چې موږ انا بلله ، دانا په سترګو کې اوس دویراني نښانې ډیرې ځلاندې وې دهغې په تندي اوځیره کې خو همغه دخلوص اومینې ځرکونه ووخو نوردهغې پرځیره دورانیو اوغمونو یوداسې چادر غوړیدلی و چې دخلوص اومحبت ځپوهم سرنه شو ترې پورته کولی .

ماته یو ځل بیا هم دانا او یارګل بابا تیر یادونه غبرګ سترګو ته ودریدل خونور انا خپل دغمونو اوښادیوګډ انهیوال یارګل باباهم خوړلی و اودادې دړنګې کلا ، رنګ کهول په کنډوالو دیوازینی منجوری په څیر یوازې پاتې وه .

دانا په سترګو کې ګیلې هم وې اودتیرو توپانونو کیسې اوافسانې هم ، بیا به یې هم کله کله پرګیلو او رنځونو دخلوص اومینې څپو زوروره څپه محسوسیدله ، دهغې ترروچو تورو شونډو به کمزورې غوندې غږ راووت :

عمرمو په خیر تیرشو ...

چې په همدغو کمزورو تکو کې به دهغې دفطري خلوص اومینې خواږه حس کیدل ، خو دانا ژوند توپان داسې ځپلی ؤ چې له ویرانو اوکنډوالو پرته پکې هیڅ نه وو پاتې شوي ، دهغې په سترګو کې نوره ځلانه وه پاتې ، هغې نور په دنیا څه نه لرل که یې لرل دیوې ګنې کورنۍ دتباهۍ یادونه اودردونه وو ، دیوې پنډې خیل خانې دوړو ، زړو او ځوانانو دمرګونواوشهادتونو داستانونه اوخاطرې وې نور داسې ښکاریدل چې دررد اوغم دغه درانه بارونه هم دانا په کمزورې اوږدو عمر رنځونواو دردونو خوړلی بدن نه زغمیدونکي دي .

دانا دتندي اوځیرې دګونځو په هره لیکه کې داستانونه وو ییادونه وو ، سوځیدلي ارمانونه اوحسرتونه وو ، په چوپه خوله کې یې دفریادونو اوکریکو انځورونه وو ، چې اوریدلی نه شوای خو هرچا حس کولی شوای په سترګو کې یې دړنګې کلا تصویرونه وو دهغې کلا چې دیوالونه یې روغ وو خو دننه پکې مرګوني سکوت حکم چلاوه ، اوچې بیا دهغې له بې نوره سترګو نه داوښکو څاڅکي راتو یې شول ، نور ماحول دژړا اوفریاد توپان داسې په خپله لمن کې راونغښت لکه ماتمونو چې هغه توپان ځپلې کلي اوکلا په خپله هیبتناکه غیږ کې نیولی وو ...!

عرض الدین «صدیقی»



ولسي ادبيات

سید انور آغا د جهاد د ویاړونو ابدي گرځوونکی شاعر

سیدانور اغا په ۱۳۳۵ هـ ش کال کی دپکتیکا ولایت په شهید پالونکی سیمه کی سترگی غړولی دی ، ددارگون ولسوالی د"دمانده" په سپیڅلی خاوره کی خاپوړی کړی اودسعید اخندزاده دفقر اوستونزو ډک کهول کی رالوی شوی دی.

سیدانور په قوم سادات پلاریی سعید اخندزاده دقوم له پیژندل شووسپین ږیرو او درنو مشرانو څخه ؤ .

ولسوالی په لیسه کی خپلو زده کړو ته دوام ورکړاوکله چی یی دولسم ټولگی څخه دفارغیدو سند ترلاسه کړ په نوموړی لیسه کی دښوونکی په توگه په کار وگمارل شو

، سیدانوراغا څوکاله په نوموړی لیسه کی دښوونکی په صفت خپله دنده په خورا موفقیت سرته ورسوله او ترهغی وروسته دښوونځی دسر ښوونکی (سرمعلم) مسولیت ورسپارل شو .

سیدانور له وړکتوب څخه ډیرزکی هوښیار او له تعلیم سره یی مینه درلوده ، په وړکتوب کی یی دکلی له امام څخه دبغدادی پاره اوقرانکریم لوستل پیل کړل ، اوچی کله داته کلنی پړیسرلی ورگډ شو دخپلی سیمی په نږدی ابتدائیه ښوونځی کی شامل کړای شو ، هغه دزده کړی په دوران کی هم دلیاقت او زیرکی مظاهره کړی او تل به دخپل ټولگی دممتازو زده کوونکو په قطار کی شامل وو دابتدائیی زده کړو ترپای ته رسولو وروسته دارگون

سیدانور له وړکتوب څخه دشعر شاعری سره مینه دلوده هغه به دځوانی په بهیر کی چیرته چی دولسی شاعر غږ واورید ځان به یی ورساوه اودهغوی دشعرونو په اوریدلو به یی خپله تنده ماتوله هغه وایی: «مابه په ځوانی کی دولسی شاعرانو دشعرونو په اوریدلو خپله تنده ماتوله ، خو ورو ورومي په زړه کی دشعر ویلو جذبی زیاتی شوی اوبالاخره دشاعری سیند دځان سره لاهو کړم اولومړی شعر می په (۱۳۵۲) کال کی ووایه. سیدانور له پیل

څخه دشعرله لاری خلك له ناوړو عملونو څخه منع کړی او پرخلکو یی دښوعملونو دسرته رسولو غږ کړی ، هغه دخپلو لومړی شعرونو په ترڅ کی دټولنی نیمګړتیاوی رابرسیره کړی اودهغو داصلاح لاری ، چاری یی ښودلی ، هغه دڅور ترکړغیرنی کودتا دمخه هم زیات اشعار ویلی خوزیاتره یی دفنا توپان دځان سره الوزولی اوورك شوی اوچی کوم اشعاریی دڅور تر کرغیړنی کودتا راوروسته ویلی اکثره یی یاد کسټونو اویا دکاغذ په مخ خوندی شوی اوپه دی توګه یی دورکیدلو څخه ژغورلی دی چی یوه بیلګه یی دلته لولو :

وروڼو راپاڅئ دغه ورځ دامتحان دی — نن دروسانو سره جنګ په قران دی
دا داسلام اووطن ننګ دی — دسرورو سانو سره جنګ دی
دمسلمانو په وینو سوردشت اوبیابان دی
نن دروسانو سره جنګ په قران دی

دغه سپین غر په وینو رنګ دی — دبابا غرهم په بل رنګ دی
دادپامیر پر سردرودسروووینو توپان دی
نن دروسانو سره جنګ په قران دی

دهندوکش لمنی په وینو سری دی — سیند دکابل اوبه هم تکی سری دی
په ټوله پکتیا بیا دسروووینو باران دی
نن دروسانو سره جنګ په قران دی

په مشرقی شمالی اوکندهار کی — هم هرات ،غزنی اولوګر کی
په وير لړلی هرکور دافغان دی
نن دروسانوسره جنګ په قران دی

یتمیان ژاړی کورپه کوره — دچاپلار شهیدی دچاوروره
نن په ژړا هرمسلمان ننګیالی ځوان دی
نن دروسانو سره جنګ په قران دی

وروڼو داځالله دشاهین دی — ورځنی تللی هرظالم په زړګی شین دی
زموږدمتهو زورته ټول خلك حیران دی
نن دروسانو سره جنګ په قران دی

موږ کمونیزم اوالحا دوړکوو — دادهریت کفر اوفساد ورکو
داداسلام سرو روسانو ته اعلان دی
نن دروسانو سره جنګ په قران دی

د پکتیا په غـــرونـــو ، دښتو ، رغوکی   کـــلـــی پـــه کـــلـــی اوښـــنـــو دروکی
سیلاب دســـرووینـــو «انوره» روان دی
نن دروسانو سره جنگ په قران دی

سیداانور اغا به ۱۳۵۷ هـ ش کال کی ترهغی وروسته چی کله په هیواد کی ورو ، ورو دکمونستانو په مقابل کی پاڅونونه پیل شول هجرت وکړ اودمولوی جلال الدین حقانی ترخنگ یی وسله وال جهاد پیل کړ ، هغه له کومی ورځی چی دهجرت په دیارکی پښه ایښی بوسله وال جهاد سربیره یی دشاعری احساسات هم دوه چنده شوی اوله دی لاری یی زموږ دجهاد افتخارات خوندی کړی ، هغه دخپل شعرپه ترڅ کی که دیوی خوا زموږ دجهاد ویاړونه ،زموږ داتلانو اتلولی ،زموږ دوگړو کړیکی ، دروسانو ظلمونه اووحشتونه خوندی کړی دبلی خوایی زموږ دټولنی اومجاهدینو نواقص اونیمگړتیاوته هم گوته نیولی دی ، دسیدانور شعر زموږ دخلکو دیارلس کلن جهاد ټیټی ،جگی ، ویاړونه اوویرونه دځان سره لری ، هغه دیوه مومن مجاهد په توگه خپل رسالت سرته رسولی اوتل یی خلك دجهاد خواته رابللی او جهاد یی زموږ دکشالی دحل یواځینی لار بللی ، هغه ترهغی وروسته کله چی روسانو په نظامی ډگر کی ماته وخوړه اودسیاسی حل ډندوری یی پیل کړی دروسانو اونړیوال استعمار داتوطیه رسوا کړی اوهغه یی دجهادله مینځه وړلو اومنحرفولو توطیه بللی :

حل سیـــاســی نه دی دوکه ده چل ول دی   جهاد زموږ تـــگ لاره جهاد دلاری حل دی
ماتی په حـــال زمـــوږ دښـــمـــن دی   ورتـــه تـــیـــار ځـــای د دفـــن دی
حل سیاسی چغی وهی مطلب یی بل دی
جهاد زموږ تگ لاره جهاد دلاری حـل دی
موږه یـــومـــوتـــمـــی افـــغـــانـــان یوو   یـــومـــوهـــدف جـــارلـــه قـــران یوو
په یـــوه چغه مودښمن باندی یرغل دی
جهاد زموږ تـــگ لاره جهاد دلاری حل دی
مـــوږ کـــمـــونـــیـــزم اوالـــحاد ختموو   خلق اوپرچـــم او هـــر شـــداد ختموو
قـــران مجید زموږ دلاری بل مشعل دی
جهاد زموږ تگ لاره جهاد دلاری حل دی
په دښـــمـــن دانـــگوغورځنگونه کوو   دسره کـــمـــون خـــلاف جنگونه کوو
په سرو لښکرو موجوړ کړی نن غوبل دی
جهاد زموږ تگ لاره جـهاد دلاری حـل دی
دښمنه ستاتولی حـــربی پـــیـــژنـــو   ستـــا دسیسی اوتـــوطـیی پیژنو

دشیطانت سبق دویلی مکمل دی
جهاد زموږ تگ لاره جهاد دلاری حل دی
که څه مشکله مسله وی په پاك قران به فیصله وی
د«سید انور» بشیر داعزام تل دی
جهاد زموږ تگ لاره جهاد دلاری حل دی

سیدانور اغا خپل ژوند داسلام دسرلوړی په خاطر جهاد ته وقف کړی ، کړاوونه یی لیدلی ، ستونزی گالی ، دخپل هدف دترلاسه کولو په خاطر پرمخ تللی خوسترړی شوی نه دی ،

هغه داسلام په لاره کی دهلو ځلو په تور څلور میاشتی زندان هم تیر کړی اوچی څنگه راخلاص شوی خپل وسله وال جهاد ته یی دوام ورکړی دی .

سیدانور دجهاد په دوران کی په یوه وخت اوزمان کی په یومحاذونو کی جنگیدلی ، پرخه په پرخه اوسنگر به سنگر لویدلی او په دی توگه له دی لاری یی دروسانو او دهغوی دگوډاگیانو زیاتی ککری دخاورو سره مښلی ، اوهم یی بیا دجهاد ترڅنگ دشعرله لاری زموږ دوگړو قهرمانی اوکړیکی منعکس کړی دی .

سیدانورآغا پر اشعار ویلی چی شمیر یی ۱۰۰ قطعوته رسیږی اواکثره یی په کسټونو کی ثبت شوی ، کور په کور اوسنگر په سنگر گرځیدلی اودخلکو داحساساتو دراپارولو او دشهیدانو دوارثینو دصبر اوزغم دپیداکولو هڅه یی کړی ، دلته موږ دنمونی په توگه دهغه دیو اوږد شعر یوه برخه راوړو .

نوی مقام دمبارك شه دجنت شهیده تاته راغلی فرشتی دی صف په صف شهیده
تاچی گولی دملحدینو په تهتر خوړلی افتخارات دی په دنیا او په عقبا گټلی
تاخولیدلو خپل مقام پاس په جنت شهیده
تاته راغلی فرشتی دی صف په صف شهیده
تاځان قربان کړو دالله (ج) په نامه خاص داسلام رسول الله په نامه
ستامبارك شه اویاتنو شفاعت شهیده
تاته راغلي فرشتي دي صف په صف شهیده

*** ***

انځار شاعران

حیران ختك دقلمی سنگر لومړنی مجاهد

شهرت ننګیال

ښاغلی حیران ختك ځوان لیکوال او انقلابی شاعر دی ددوی فن له ابتداء څخه دمقصد اوتعهد په لاره ایښی اوپرمخ روان دی دښاغلی همیش خلیل خبره حیران ختك ددغه انسانی نړی په اباده کی دیوه مقصدی اوفعاله انسان په توګه دژوند سفر تعین کړی اولکه دنورو انسانانو هغه هم حق لری چی دخپل نظریاتی منزل دسرکولو لپاره لاس اوپښی ووهی ، هغه دسید جمال الدین افغانی دنظریی دتکمیل لپاره دیوی داسی قافلی ملګری دی چی دحق اوصداقت بیرغ په خاطر اوبیا په ټول انسانیت دخدای نعمتونو،امن اوسکون دپیروزینو دپاره دیوه رنګین او حسین پسرلی په ارزو دخپلی وینی تروروستی څاڅکی دتویولو دعوه لری . «وینی بهیږی سپرلی به راشی » دښاغلی حیران ختك په هکله زما ددعوی هغه آئینه ده چی دموصوف دنظریاتی تقدس اوادبی صلاحیتونو کره وره پکی څرګند لیده شی.

حیران ختك د۱۹۵۵ میلادی کال ددسمبر په ۹ نیټه په بنوں کی زیږیدلی په خته ختك دی په تعلیمی میدان کی یی دګومل یونیورسټی دیره اسمعیل خان څخه په مڅاشیاتو کی ماستری (ایم ای) اخیستی ، په انستیټیوټ اف ریجنل سټدیز پیښور کی یی دریزیدنټ ډایریکټر په توګه وظیفه اجراکړی ، داباسین پښتو مجلی دمدیر په توګه یی هم څوکاله کارکړی ، لدی سره دوحدت ورځپاڼی اوپیښور راډیو سره هم قلمی همکاریاتی شوی دی .

شاعری یی له پنځم ټولګی څخه شروع کړیده ، په ادبی میدان کی یی لومړنی قدم ددرویش تخلص سره ایښی دی خو وروسته یی حیران تخلص غوره کړ، اوپه همدغه تخلص دومره مشهور شو چی اوس یی اصلی نوم

(دلاورجان) بیخی ښوك پیژنی نه .
حیران خټك په ادبی فعالیتونو کی فعاله برخه اخیستی په ۱۹۶۹ میلادی کال کی دبنوں د(کاروان ادب) له ادبی تنظیم سره منسلك اود کشر سکرتر په توگه یی په ادبی فعالیتونو برخه لرلی دبنوں (بزم ادب) په ادبی تنظیم کی یی هم دکشر سکرتر په توگه وظیفه اجراکړی - بیایی په وروستیو وختونو کی په پیښور کی (دقلم کاروان) په نوم یو ادبی انجمن دیوشمیر لیکوالو اوشاعرانو په مرسته جوړکړ ، چی لدی لاری یی خورا زیات ادبی فعالیتونه ترسره کړیدی .
ښاغلی حیران خټك نظم اونثر دواړه لیکی اوښه یی لیکی دادب په هره څانگه عبورلری دشعر او شاعری په برخه کی یی نوی تجربی کړی اودتحقیق ، لټون اوڅیړنو چارو ته یی هم اوږه ورکړیده .
ښاغلی حیران په اردو ژبه د(سرگذشت مجاهدین افغان) په نوم یو کتاب لیکلی چی خپورشوی هم دی همدارنگه یو بل اثر یی (وینی بهیږی سپرلی به راشی) په نوم په ۱۹۸۵ میلادی کال کی تالیف کړی چی تراوسه دری ځله چاپ شوی دی.پدغه کتاب کی دافغانستان دجهاد په هکله د۵۰ تنو انصارو شاعرانو جهادی شعرونه راغونډ شویدی چی دفورم او محتوی دواړو له مخی یو ادبی شهکارگڼلی شی.
دپښتو غزل باباامیر حمزه خان شینواری پدی اړه لیکی: وینی بهیږی سپرلی به راشی دمحترم حیران خټك اثر دی چی دافغانستان دجهاد په هکله دصوبه سرحد اوبلوچستان دشاعرانو دتاثراتو یوه ښکلی هنداره ده زه پوهیږم کوم خلك چی دادمیت په عزت اودانسانیت په احترام پوه دی هغوی به یقیناً دروسی جارحیت غندنه کوی داکتاب باید چی هرپښتولوستونکی ته ورسی اوکه کیدی شی بیا بیا چاپ شی زه امید کوم چی پښتانه به ددغه اثر په خورولو کی دحیران خټك څخه هم ډیر تشکر وکړی اودهغه هاړ گیرنه به وکړی .
مرحوم ایوب صابر ددغه کتاب په هکله لیکی :
" دافغانستان مسله یوداسی اوردی چی له تولوپښتنو راچاپیردی ، یو داسی درد دی چی دهرپښتون له زړه نه خیژی ، داوردد غو لمبوله تاوه چی څومره پښتانه خبردی هومره تری نورندی خبر - ددغه درد تفسیر چی پښتانه څومره سنه کولی شی هومره یی نور مفسرین نشی کولی - دحیران خټك مرتب کړی کتاب «وینی بهیږی سپرلی به راشی » ددغه درد یوډیر ښکلی تفسیر دی - پدغه کتاب کی دافغانستان اوپاکستان دپښتنو مشترکه درد داسی محفوظ شوی چی اوسنی کهول خویه یی یادساتی بلکی زموږ دراتلونکی نسل له پاره به هم یوه تاریخی سرمایه وی ... "
دروند لیکوال پوهاند پریشان خټك لیکی :" کله چی زما نظر پدغه کتاب پریوځی نو په تصورکی دکندهار ، پکتیا،غزنی ، هرات ، هلمند اودمظلوم افغانستان بی شمیره سنگرونه مخی ته راشی چیرته چی داسلام په مینه مست افغانان په تش لاس دخپل ایمان په زور دباطل په مقابله کی دعزیمت په تاریخ کی دیوه نوی او طلایی باب اضافه کوی - دحق اوباطل پدغه معرکه کی ماته ښاغلی حیران خټك په هرسنگر کی دافغان مجاهدینو په صف کی لکه دیوه سرتیری مجاهد په توگه اوږه په اوږه ولاړښکاری ."
دپیښور پوهنتون دپښتو اکاډمی مشرپوهاند محمد نواز طاهرلیکی :
" افغان مجاهد ولس چی نن دکوم انقلاب نه تیریږی اوداسلام دنهضت او تحفظ په خاطر دوی دسراومال کومه قربانی ورکوی دایقیناً چی داسلام دصدر اول یادتازه کوی - افغان ولس داسلام غازی دی - ددغه

ولس په ملي ژوند کی له اسلام پرته دبل یوه ازم لپاره هیڅ ځای نشته زما ایمان دی چی الله تعالی به لکه دبدر اوحنین دسرفروشانو دوی ته هم دجدال اوقتال پدی معرکه کی اخربری ورکړی – زه هم بی شکه ددی کتاب دمولف ددغه قیمتی ارزو متمنی یم چی «وینی بهیږی سپرلی به راشی » ان شاالله "

پیاوړی لیکوال اودپاکستان نشنل سنټر ډایریکټر ښاغلی اعجاز احمد زاهد لیکی :

" نن دننګیالی افغان په ځمکه – دتورزن ابدالی په خاوره – دسخی شاه مردان په سیمه – دغیرتمنو افغانانو په وطن – داسلام په چمن – دپښتنو په مسکن دباتورانو په ځالو …

داورونو دندو کاردی

دلبو غرغندی دی

… دافغانانو دغه جهادی سفر اوس هم جاری دی اوخدای خبرچی ترکومه به جاری وی – داور اولبو غرغندی اوس هم له ورایه لیدی شی…

اوس هم په لکونو ځوانان پدی چاپیر چل کی ټینګ اومضبوط مورچه بند ناست دی – دټوپکو په دستو اوکوترویی منګولی ورښخی کړی ددښمن په سنګرونو لکه دزمرو وردانګی – دټانکونو مخی ته لکه دفولادو دديوال ولاردی .

په سترګو کی یی دعزم اوارادی سرخی او په تندو کی یی دمستقبل رڼا ځلیږی – هری پیښی ته په ټینګه حوصله ، مضبوط عزم او پخه اراده ورغاړه وزی ، دهیڅ نه ویره نه کوی ، نه دزور ، نه دطاقت نه ، نه دعددی شمیر اونه دقوت نه – دوی که لس دی خولس زره تری زغلی که یو دی خوپه سلو بردی …

داځکه چی دوی په حقه دی ، افغانان په حقه دی ځکه خو بریالی دی – افغانان بریالی وو – بریالی دی اوهمیش لره به بریالی وی – دادتاریخ فیصله ده که داسی لس چنده نور پوځ یی هم مخی ته راشی خو دننګ – پت ، پښتو او غیرت په ازلی خویونو معموره افغانانو حوصلی به ماتی نکړی ، ددوی ارادی به ونه لړزوی اودوی به له خپلی لاری نه وانه ړوی .

څومره چی زور زیاتیږی ددوی مور چی به نوری هم مضبوطیږی ، څومره چی ظلم انتها ته رسی ددوی دبرداشت قوت اود مزاحمت طاقت به وده مومی. دیوه افغان مجاهد غلبیل غلبیل سینه کی هر یو پرهر او سوری به مورچه شی – دهر شهید وجود که په خاورو کی پټ دی نو څه وشول داخود بارود سرنګ دی چی دښمن پری راتیریږی له ژوند به لاس منیځی … داد دین سپاهیان او دننګ او غیرت نه ډک غازیان نن که دوخت په ناترسه پنجو کی راګیردی نوڅه ، دوی خوپوازی ندی داسلامی امت دایو اندام که نن ژوبل دی نو نور وجود خو ورسره هم دردمند دی – دفکر پهی خو شته – دامید مرهم خوپراته دی – دافق په څوکو چی داسرخی ښکاری – داخو دلمر دراختو علامی دی – لری نده چی دالمر تود شی اودتیارو څادر وشلوی –هو ! دادفطرت قانون دی اودادتاریخ فیصله ده .

وینی بهیږی سپرلی به راشی دپاکستان دولس په تیره دپښتنو دجذباتو اواحساساتو صحیح ترجمان دی پدی کی دملك دهروګړی دزړه له تله راوتلی هغه احساسات شامل دی چی دافغانانو په هکله دپاکستان په ولس کی پایی . "

ښاغلی اعجاز احمد زاهد وراندی لیکی :

" دپاکستان دپښتنو شاعرانو داتحفه اودولس دجذباتو داغر دقلم څوکی ته څنګه راغی ددی لپاره ګران حیران خټك دستاینی وړدی ، خو ددی سره سره دهغو ګرانو او زړه ته راتیرو شاعرانو مننه هم ضروری ګنم چی

دحیران خټك په وینا یی دخپل زړه اواز اوخپل قلبی اوذهنی احساسات په دومره زړه راښکونکی انداز کی قلمبند کړل خوافسوس په هغو شاعرانو چی دوخت په تقاضو اوغوښتنویی سترگی پټی کړیدی دحقیقت دقبلولو توان نلری – خولری نده چی دوی په خپلو دی کړو پښیمانه شی – دعاده چی الله پاك دوی ته په حق اوباطل – دروغو اورښتیاوو – ظالم اومظلوم اوپه ښه اوبدکی دفرق او تمیز کولو توفیق ورکړی .

ښاغلی حیران دافغانانو دجهاد کلك مدافع دی ، دی له اوله دهغو بی پښتوپښتنو په وړاندی دریدلی چی دپښتنوپه نوم یی دسیاسی دکانداری بازار گرم کړی اودشخصی اهدافو اوروبلونو اوکوپك په تمه دافغانانو داسلامی جهاد په مخالفت کی دریدلی دی .

حیران دخوشحال بابا دتوری اوقلم له ریښتینو وارثانو څخه دی اوپه هغو پردی مشربه اوتش نوم انقلابیانو دپیغور کانی وروی چی په خوله خو دپښتو پښتو نوم یادوی خو په حقیقت کی کله دهندوانو اوکله دروسانو سازته لاس اولستونی غوړځوی اودپښتنو په مری ورته چاره راکاږی .

له همدی ځایه ده چی حیران خټك د(وینی بهیږی سپرلی به راشی) کتاب په سریزه کی لیکی :« دافغانانو دازادی جنگ به اوایمانی قوت په هردور کی دقامونو له پاره دلاری مشال گرځیدلی اوهغوی ته یی په درنه طریقه دژوند تیرولو طریقه ورښودلی ده – تاریخ پدی خبره گواه دی چی په مختلفو وختونو کی ددنیا ډیرو یرغلگرو دلته دخپلوکامیابیو بیرغونه ښخول غوښتل خو افغانانو ددوی ټول ارمانونه خاوری ایری کړل اودافغانانو ځمکه یی دهغوی په لاشونو ډکه کړه .

... افغانانو یو ځل بیا دخپل تاریخ سازکردار له مخی په انسانیت باندی دنوی ژوند زیری وکړ ، په استعماری قوتونو دافغانانو هره وړه فتحه دمظلوم انسانیت غټه فتحه ده – نن دافغانستان غیرتی مسلمانان دنړی هغو کروړونو مظلومو انسانانو ته پخپلو ځانونو باندی داعتماد کولو سبق ښایی کوم چی دسره استعمار په دام کی ښښتی دی .

هو ! کله چی افغانانو په تش لاس دخپل دینی اوملی تشخص دحفاظت لپاره دجهاد بیرغ پورته کړنوداخبره ممکنه نه ښکاریده چی دوی به داستعمار داحمله په شا وتمبوی خو افغانانو ډیر ژر په خپل ایمانی قوت داناممکنه ممکنه وگرځوله اودافغانستان ځمکه یی دسره سحر هدیره جوړه کړه .

... هغه بنیادی عامل چی افغانان یی دیوه غټ استعماری طاقت مقابلی ته چمتو کړل هغه ایمان اوداسلام دعظمت ساتلو جذبه ده اوهمدغه جذبه ده چی نن دافغانستان ولس دمیړانی اونارینتوب یونوی تاریخ لیکی اوترڅوچی په افغانستان کی یومسلمان هم موجودوی هلته به دکفر پسی هیڅکله هم ټینگی نشی اوان شاءالله هغه ورځ لیری نده چی الحادی اوفسادی طاقت به خړی اومړی سترگی له افغانستان څخه وځی .

ساغلی حیران وړاندی لیکی :

زه داخبره په ډیر افسوس سره کوم چی زموږ دسیمی دانشورانو پدی لړ کی خپل حق ندی ترسره کړی اوداځکه چی دااهمه طبقه اوس ددی صفت حامله نده پاتی شوی یاخو پدوی کی ددی جرئت نشته چی حق ته حق اوناحق ته ناحق ووایی اویا بیا دوی کرداردوه مخیزه شویدی – دوی نن دانسان په ځای دخپل ځان اودخپلو بادارانو دمفاداتو خیال ساتی اودمظلوم په ځای ظالم دملگرتیا حقدار گڼی .

داهمغه دانشوران دی چی دویتنام مبارزینو ته به یی سلامونه کول خواوس دخپلو افغانانو وروڼو برحقه

جنګریز ته طبقاتي کشمکش وایي - نویتنامیانو دمیړانې
به یې ستاینه کوله خو دافغانانو ننګ او غیرت ته یغاوت
وایي - نویتنامیانو دمظلومیت داستان به یې ډیر په
خوند خوند بیانولو ولې نن چې په افغانستان کې څه
کیږي په هغې داسې چوپ دي لکه چې هېواګاه نه وي -
حالانکه افغانستان کې کیدونکي ظلم داوخت په نړۍ کې
دبربریت یوه نمونه ده - او افغانان نه یواځې دخپل
هیواد دتحفظ لپاره جنګیږي بلکې دخپل دین اومذهب
لپاره کفن په سرمیدان ته راوتلي دي دهغه دین لپاره
چې دغه دانشوران یې هم دعویداردي ...

... خو وخت یوډیر بې مخه منصف دی اودی
دانشورانو له به دخپل دوه مخیز معیار اوادبي بددیانتي
سزا ضرور ورکوي - ځکه چې ددوی تقدیر هم ددې قام
له تقدیر سره تړلی دی اویوه ورځ به راشي چې دوی به
دتاریخ په عدالت کې دمجرمانو په صفت ولاړ وي .

دخوښۍ ځای دی چې پدې میدان کې داسې حقیقت
پسنده شاعران اوادیبان هم شته چې دافغانانو ورونو
درد ورته خپل درد ښکاري اودوی کرمي خپلې کرمي
ګڼي .

اوداګڼي چې دافغانستان له ولس سره نه یواحې په
اسلامي رسۍ تړلی ، بلکې کلتور، روایات اوتاریخ موهم
شریك دی .

هو ! موږ ددغه لیکوالو اوپوهانو دلیکنو ځینې برخې
ځکه دلته رانقل کړې چې ددوی د ځیرنظراوسیاسي
بصیرت په رڼا کې وړاندې شوې پیشګویي نن رښتیا
شوې دي دافغانانو دبې دریغه قربانیو له برکته روس له
شرمیدلې ماتې ورووسته له افغانستان څخه پښې سپکې
کړې دروس داشکست یواځې په افغانستان کې پاتې
نشو بلکې شرقي اروپا اوټولې نړۍ ته یې لار وموندله
اوله نړۍ څخه دکمونیزم جنازه ویستل شوه اودافغانانو

دتاریخ اوماضي دځلانده پاڼونو له مخې زموږ دانصارو
پوهانو، ادیبانواو لیکوالو هغه مخکې وینه اوپیشګویي
رښتیا ثابته شوه چې کله مخکې یې کړې وه او ددې پاڼو
اوباوريې څرګند کړې و چې ورووستې فتحه اوبرې
دافغانانو مقدر دی ځکه چې افغانان په حقه دي اوالله
تعالی دحقې لارې مل .

هغه ټولې خبرې رښتیاشوې اوهغه چې دچاپه خیال کې
هم نه تیریده نن په رڼو سترګو دهغو واقعیتونو په
وړاندې ولاړ دی اودسرپه سترګو یې ګورې له شکیب
ارسلان نه راواخله بیا تر دغو پوهانو پورې چې چاهم
دافغانانودتاریخ اوماضي څخه مطالعه کړې نن دهغوی
نظریات دکاڼي دکرسۍ حیثیت غوره کړیدی .

نن دروسي په اصطلاح نه ماتیدونکي ځواك او په شانه
تلونکي انقلاب ټوټې ټوټې اوډېرې وړې پروت دی ،
اوورسره دهغو په اصطلاح دانشورانو - او دپښتو په
سر دسیاسي تجارانو او نورو اسلام دښمنه عناصرو
سترګې خړې اوله شرمه ټیټې دي چې افغانستان یې
مرحومه ملت ګاڼه اوویل یې چې روس په کوم ځای کې
پل ایښې بیا ندې په شاشوې خولادې حقیقت څخه یې
سترګې پټې وې چې په افغانستان کې هم دهیڅ
یرغلګرپښې ندې ټینګې شوې اوهریو دشکست له
شرمیدلې او تور داغ سره یې دتیښتې لاره په مخکې
نیولې ده .

له همدغه ځایه ده چې ویلی شو ښاغلی حیران خټك لا
هغه وخت ددغه حقیقت په ځلونه کې دخپل قلم توره
ځلولې ده چې دروس دمادي او وحشي طاقت په نشه
مست داستعمار نوکرانو لاسترګې اوغوږونه نه وُ خلاص
شوي ځکه خوښاغلی حیران پدې مقدسه معرکه کې
دقلمي جهاد دمیدان لومړنی مجاهد ګڼلی شو چې په
ډیرو سختو شرایطو کې یې دحق حقانیت اوحقیقت

ډیوی بلی ساتلی دی په قلم او فن یی برکت
دښاغلی حیران خټك دكلام نمونه :

تسله

افغانه وروره خفه کیږی به نه

افـغـــانه وروره خـفـــه کـیـږی به نه
دحـــق دلاری پــــه شـاکـیـــږی به نه
منم چی تـــه نـــن دالـحـاد دلاســـه
دجـــبروظـلـــم اســـتـبداد دلاسـه
دخـپـل وطـــن نــــه درپـــه درگرځی
ځیری گــریـــوان اولیمه تـــرگـــرځی
منم چـــی تـــاسره ظلـمــونه کیږی
په تاهم رنگ رنـــگ ستــمـونـــه کیږی
دستاپـــــه ویـنـــو لالـــه زار دی وطـــن
نن په پــــنـجه کی داغـیـــار دی وطن
منـــم چـــی ســتــاپه وطـن اور وریږی
په هره خـونـــه پـــه هــرکوروریــږی
خــــوای افـــغـانــــه میـړنی افـغانه
ای غــــیـرت مـنــــه ننگیالی افغانه
ستاحوصلو ته داظـــلـمـــونه څه دی
ستـا ارادوتـــه قـــدغـنـونـــه څـــه دی
لوړو جذبوته سنگین غـــرونه څـه دی
حق پرستانو ته دارونــــه څـــه دی
ته دایـمـان پــــه مینــه مست یادیږی
ته دغیرت ناموس څښـتـــن نومیږی
تاسره مل دخدای نـصـــرت دی وروره
ښکاره غلیم ته دجـرأت دی وروره

تـاوتـــه کـفـر تېنگـیـــدی کله شی
دستاپه لار کی اودریــدی کــلــه شی
ته خو مـعـلـوم تمام قـــامونو ته یی
ته خو ښکاره هـــم جـهانونو ته یی
تادخالق په دیـــن چی ننگ کړیدی
کفر باطل ســـره دی جنگ کړیدی
دســـراومـــال دی څــه پـــروا اونکړه
په دی بائیلات دی هیـــڅ ژړا اونکړه
کفن په سر دخوږ اسـلام په خاطر
ددین وطن دننگ ونام پـه خـــاطـر
تادعـمـــل پــــه میدان گام کیښـــود
دحق بیرغ دی په هـربام کیښـــود
افـغـانـــه تـــادخپل ایمان په جـذبه
دحـــق دکتـمی اوتـاوان پـه جـذبـه
غلیم ته سترگو کـی دی سترگی ورکړی
که ارادی دی ورتـــه درپـــه درکـړی
ځکه دښـمـــن درنـــه پـــه شاتمبیږی
دتـهینـگی نه دی اوس به خودستنیږی
اخـریـری بـــه پــه الحـاد ومـومی
کـابل بــه بــیا یو ځل اباد وموِمی
ماتـه ښـکاریږی چی بهار به راشی
بـیا دځـوانـی په تاهم وار به راشی
دســـتـادښـمــــن به شرمسار درومی
ستاله وطن بـه پـه کـــوکار درومـی
خـو
افـغـــانــــه وروره خـفـه کیږی به نه
دحـــق دلاری پـــه شــا کیږی به نه

دافغانستان دجهاد په اړه لومړنی ناول:

دغرونو اور

گرانو لوستونکو :
موږ په ترروسه وسه کوښښ وکړو چي (دافغانستان جهاد دکتاب په هنداره کي)
ترسرلیک لاندي هغه کتابونه معرفي کړو چي دبهرنیو لیکوالو اوژورنالستانو
لخوادافغانستان دجهاد په اړه لیکل شوي دي «اداره»

د(غرونو اور) دهغه ناول نوم دی چی دپاکستان دځوان او متعهد لیکوال ښاغلی طارق اسمعیل ساګرله خوا لیکل شوی اوپه لاهور کی دقومی کتابخانی له خوا د١٩٨٩ میلادی کال دمارچ په میاشت کی په ٣١٨ مخونو کی په ښکلی قطع اوصحافت چاپ شویدی.

د(غرونو اور) دافغانستان دجهاد په اړه لومړنی خپورشوی ناول دی چی دافغانستان دجهاد اودروسی استعمار پرخلاف دافغانانو دقربانیو او مقاومت بیلابیل اړخونه یی په یوه ادبی تسلسل کی پیپلی اودیوه معیاری ناول په چوکاټ کی یی راغونډ کړیدی.

(دغرونو اور) ناول موضوع دافغانستان دمجاهد او قهرمان ولس دژوند ، مبارزی ، قربانیو،، وینو ،اوښکو ،اهونو، قهرمانیو، ارادو او تاریخ سازمقاومت رسا عکاسی اوانځورکړی ده چی طارق اسمعیل ساګریی یواځی دافغانانو نه ګڼی بلکی دادټول انسانیت اواسلام له پاره دافغانانو قربانی اوجدوجهد ګڼی له همدی ځایه ده چی دناول په مقدمه کی لیکی :

«... له چکوسلواکیا ، بلغاریی ، پولند اوهنګری

وروسته روس پر افغانستان پوځي يرغل وکړ ، روس ددنيا دتسخيرولو له پاره يو په بل پسې هيوادونه ترخپلې خيټې لاندې کړل خوښايي روس داله پامه غورځولې وي چې افغان ولس هيڅکله هم خپل تاريخ نشي هيرولی .

له همدې ځايه ده چې روس دخپلو استعماري ناولو مقاصدو له مخې دخپل تيرې له امله نن سبا پداسې ډنډ کې نښتی چې دفارسی ددغه متل په بنا (نه جای ماندن ونه پای رفتن) له وضعې سره مخامخ شويدی .

روسي پر افغانستان پوځي تيري وکړخوزما باوردی چې روس به ددی قيمت لدی ډير زيات اداکړي .

ددغه تصوير دوهم مخ چې ډير دردوونکی دی دادی چې که روس يو ځل له سرحد څخه پښه ديخوا راواوړله اودافغانستان له دنګو غرونو څخه دکمونيزم سيلاب راواوښت بيانو پدغو اوارو سيمو اودښتو کې ددغه خونړي سيلاب مخه هيڅوك هم نشي نيولی .»

ښاغلی ساګر ليکي : «ددن ډيره حساسه پوښتنه داده چې افغانانو ددغه ستر جد اوجهد داستان ولې له خلکو څخه پټ پاتې دی اوهمداټکی زموږ دملی بی دردی ژوندی ثبوت دی .»

پداسې حال کې چې دغه مظلوم اوبې وسيلې ولس چې ځب ځب دی دخپلو دنګو اواسمانڅکو غرونو په څير دخپلې نه ايليدونکي اداری له مخې نن په ټوله نړې کې دازادي غوښتونکو له پاره ديوه سمبول حيثيت غوره کړيدی .

دټولې نړې دازادۍ غوښتونکو سترګې دهمدغه ننګيال ولس دمقاومت اوجهاد خواته کړې دی اودهمدغه جهاد له نتائجو سره دراتلونکی تاريخ تړلی دی .

(دغرونو اور) په اصل کې دنمروړ داور کيسه ده چې زه يې افغان مجاهد ولس ته دخپل عقيدت له مخې ډالی کوم .»اونن دادی دافغانانو دقربانيو اومقاومت له برکته په ختيځه اروپا کې دکمونيزم دوحشت اواستبداد زولنی ټوټې ټوټې پرتی اوله نړې څخه دکمونيزم جنازه له يوې مخې ايستل شويده .

ښاغلی طارق اسمعيل ساګر پيشتګويي نن په واقعې توګه دټولو په مخ کې ولاړه ده په رښتيا هم روسي پر افغانستان دخپل تيري قيمت ډيرزيات او دخپل موجوديت دداوپه قيمت اداکړ.

(دغرونو اور) ناول په ۲۳ برخوکې ليکل شوی دناول منظر کشی ډيره دقيقه په زړه پوری اودستايني وړده ، په ناول کې دهرچامقام اوحيثيت ډير ښه اونغد تمثيل شويدی که هغه دخاد دمتصدي روسي ډګروال شولوخوف وحشيانه حرکتونه دی اوکه دداخلې مزدور جګړن ارخان ذلتباره ژوند دی چې دروسي افسرانو ترقوماندې لاندې يې تيروی که دتحقيقاتو ويروونکي او وحشيانه جريان دی اوکه زندانونو کې دبنديانو مظلوميت دی ،که دمجاهدينو دميړانې او زړورتيا بوږنوونکي کيسې دی اوکه دمقاومت اوجهاد نه هيريدونکې خاطرې داټول يې پداسې بڼه او انداز کې نغښتې اوړاندې کړيدی چې سړی دافکر کوي همدااوس هغه ټولې صحنې ، هغه ټولې تراژيدې اوهغه ټول بوږنوونکي واقعات

پخپلو سترګو وينی .
ښاغلی طارق اسمعيل ساګر دپاکستان مشهور ليکوال اوناول ليکونکی دی دده ناولونه دافغانستان اوکشمير دازادی غوښتونکو دجد اوجهد او مبارزی ترجمان ناولونه دی، دوی په هيرلږ عمر اوکم وخت کی خورا زيات کتابونه ليکلی اوخپاره کړی دی .
(دغرونواور) ناول يوه ځانګړتيا داهم ده چی ليکوال په خپله افغانستان ته تللی له مجاهدينو څخه يی دهغوی خاطری اويادونه قلمبند کړی په غرونو اورغونو ګرځيدلی اودجګړی خونړی واقعات يی پخپلو سترګو ليدلی دی .
دی دپکتيا په وياړمنو محاذونو پخپله ګرځيدلی اودافغان غازی دشهامت ، قهرمانی اوقربانی صحنی يی له نږدی څخه پخپلو سترګو ليدلی دی .
دده دناول قهرمان دژوره له جهادی اوویاړمن مرکز څخه دخپل جهادی ماموريت په لور پل اخلی بيانو واقعی دی چی يوه په بله پسی راځی په کيسه کی کيسی رامنځ ته کيږی اوپيسنه پيښی زيږوی .
په کابل کی دشپی دګرځيدو بنديز ، هلته دمجاهدينو دچريکی عملياتو عکاسی ، دپوځی افسرانو اوافرادو ويريدوکی حالات اودمجاهدينو دبرياليو عملياتو بهيردناول دفصل فصل خښتی اومساله تشکيلوی .
دناول قهرمان په کابل کی دخپل چريکی اوجهادی ماموريت مختلف مراحل تيروی خارق العاده اوحيرانوونکی فعاليتونه ترسره کوی اودغه وړدخپل يو بريالی ماموريت په جريان کی ددښمن ګوتو ته لويږی اودخاد دمتصدی هګروال شوخولوف دوحشت په پنجرو کی بنديږی .
په جيل کی دنوروکيسو ، نورو پيښو اونورو جريانونو بهير ورسره غبرګيږی اودابهير ادامه پيداکوی .
ناول چی په څومره صفا ريښتنی واقعيت ته نژدی بڼه ددغو پيښو عکاسی کوی هغه په کابل کی درژيم اوروسی وحشت دسفاکانه اوچنګيزی خصلت اودافغان ولس دهمت او اتلوالی ځلنده اونغد تصويرونه وړاندی کوی.
دغرونو اورناول يوتاريخی ناول دی ديوه پتمن او ننګيال ولس دسختو شپو اوحساسو شيبو دخوندی کولو تاريخ دی ديوه ملت دمقاومت او مبارزی يو ادبی يادګاردی اوديوه قام دقربانيو اوقهرمانيو تلپاتی کيسه اوديوه يرغلګردوحشت اوبربريت دردوونکی داستان دی .
دغه ناول له يوه ځانګړی او منفرد حيثيت څخه برخمن دی چی داردو ژبی په موجوده ناولونو کی دشکل اومحتوی دواړو په نظر کی نيولوسره يوادبی شهکار ګڼلی شی چی دښاغلی طارق اسمعيل ساګرنوم به دافغانانو په برحقه معرکه کی ژوندی اوتلپاتی ساتی دغرونو اور دجهاد په اړه لومړنی چاپی ناول دی چی داوياړهم دښاغلی طارق اسمعيل په برخه دی ځکه خودده قلمی اوادبی جهاد دافغانانو دازادی په برحقه جګړه کی دهيرجوت مقام ورګڼلی شی اوديوه داسی باب پرانستونکی چی زموږ يقين دی چی هغه به په داستانی ادب کی ديونوی لوری اوجهت دپه نښه کولو له اړخه ديوه بل افتخاراواعزاز مستحق هم ګرځولی دی .

حوادث داغ :

جهان درماه جوزا

جميل الرحمن سائل

اول جوزا– صدای امریکا :

مجلس مقننه روسیه ماده جدیدی رادرج قانون اساسی ان کشور نموده ، که دران به اتباع روسیه حق سفربه خارج داده شده است. این ماده درسال ۱۹۹۳ مورد اجرا قرار خواهد گرفت ، حکومت امریکا این اقدام روسیه رایك عمل مثبت تلقی نموده است .

*** ***

راجیوگاندی صدراعظم سابق هندورئیس حزب کانگریس ان کشور طی مبارزات انتخاباتی بقتل رسید. قرار بود راجیو گاندی دریك اجتماع که درمنطقه مدراس هند تشکیل شده بود سخنرانی کند ، ولی قبل از سخنرانی ، توسط یك بمب که دردسته گل جابجا شده بود بقتل رسید. حکومت هند اجرای انتخابات راتایك ماه به تعویق انداخت .

تااکنون هیچ گروهی مسولیت این قتل رابدوش نه گرفته است .

۱ جوزا– تلویزیون پاکستان :

سرمنشی موسسه ملل متحد طرح جدیدی راکه مشتمل برپنج ماده است برای حل قضیه افغانستان پیش کش نموده است .

طرح مذکور شامل ماده های :اتش بش ، برگزاری انتخابات ازاد ، توقف ارسال اسلحه به هردو جانب (مجاهدین وحکومت مزدور) بقا حکومت نجیب تااجرای انتخابات و باز سازی افغانستان می باشد .

۲جوزا – بی ، بی ، سی :

حکومت پاکستان وکابل طرح اخیر موسسه ملل متحد درارابطه به حل قضیه افغانستان را ستوده اند .

اکثر رهبران مجاهدین افغان این طرح رارد نموده وگفته اند : تاوقتی نجیب در راس حکومت کابل موجود باشد چنین طرح ها هیچ دردی رادوا نخواهد کرد .

۳ جوزا – بی ، بی ، سی :

حکومت اسرائیل به تعداد پانزده هزار یهود رااز ایتوپیا به فلسطین اشغالی انتقال داد . عملیات حمل ونقل جریان دارد .زیراوضع ایتوپیادرین ایام بحراني است .

۵ جوزا– بی ، بی سی:

اقای ریاض احمد خان عضو بلند پایه دروزارت خارجه پاکستان غرض یافتن راه حل برای قضیه افغانستان

وارد مسکو گردید. این دومین سفر اعضای بلندپایه وزارت خارجه پاکستان بخارج درارابطه به قضیه افغانستان در جریان همین ماه می باشد. چنانچه چند روز قبل اکرم ذکی سکرتر خاص دروزارت خارجه پاکستان نیز به همین منظور وارد ایران وسعودی گردیده بود .

*** ***

بیش از صد تن ازجمله روحانیون سرشناس سعودی طی یك نامه ای ازملك فهد خواسته اند تاقوانین اسلام را بصورت صد فیصد درسعودی تطبیق ومورد اجرا قراردهد .

۷ جوزا– بی ، بی ، سی :

شهر ادیسه بابا بدست شورشیان افتاد. وضع ایتوپیا فعلا ارام است. رهبران شورشیان اعلام نموده اند هرکسی رادرحالت دزدی وغارت دستگیر کنند ازبین خواهندبرد .

۸ جوزا – صدای امریکا :

موسسه عفوبین المللی که مقر ان در لندن است درمراسم تجلیل سیومین سالگرد تاسیس خودیکبار دیگر ازمسولین کشور ها خواست تابا رعایای خویش رویه نیك رادرپیش گیرند . این سازمان تا اکنون اضافه از یك ملیون تن عضو داشته ودر ۱۵۰ کشور نماینده دارد .

*** ***

بعد ازیك هفته جروبحث بالاخره اعضای مرکزی حزب کانگرس هند موفق شدند تا رئیس جدید برای ان حزب تعیین کنند. انها اقای ناراسمهاراو، رادر این مقام برگزیدند .سونیا گاندی بیوه راجیواین سمت را نپذیرفته بود.

۹ جوزا

نجیب رئیس رژیم مزدور در مصاحبه خویش بارادیو بی ، بی سی گفت که حاضر نیست قبل از برگزاری انتخابات از ریاست حکومت کناره گیری کند. وي طرح اخیر موسسه ملل را با طرح حکومت کابل یکسان خواند. نجیب گفت بر کنارساختن شخصیتها وافراد مربوط مردم افغانستان است !! همچنان وی موقف حکومت ایران در قبال مسله افغانستان را مثبت تلقی نمود .

۱۰جوزا– رادیو پاکستان :

دریکی،از دیپوهای عسکری پاکستان واقع منطقه امان گهر نوشهره انفجار عظیمی رخ داد که منجر بقتل یازده تن و زخمی شدن ٦٨ تن دیگر گردید. اکثر مردم درین منطقه خانه های خود را ترك نموده وبجاهای دور رفته اند .

۱۱جوزا – تلویزیون پاکستان :

بعد از شانزده سال نبرد وخانه جنگی درانگولا بالاخره دران کشور جنگ خاتمه یافت. صلح وقتی بمیان امد که شورشیان وحکومت درحضور نماینده موسسه ملل متحد موافقتنامه ای رابه امضا رسانیدند که در ان پیشنهاد قطع جنگ وبمیان امدن صلح شده بود . درطول این مدت درانگولا بیش از سه لك نفر بقتل رسیده اند .

*** ***

حکومت های ایران وپاکستان موافقه نموده اند تا در مناطق مرزی خویش یك کمیسیون مشترکی راتشکیل دهند. کاراین کمیسون بهبود بخشیدن روابط سیاسی هردوکشور ، ونیز تسلیم نمودن مخالفین سیاسی وقاچاقبران به کشورهای مقابل خواهد بود .

۱٤جوزا – تلویزیون پاکستان :

داکتر حامد الغابد رئیس کنفرانس اسلامی جهانی

درملاقات خویش با غلام اسحق خان اظهار داشت که کنفرانس دراجلاس امسال خویش برمسله ازادی کشمیر پافشاری خواهد نمود تا از طریق صلح وتشکیل کنفرانس جهانی حل وفصل گردد.

۱۵جوزا :

بتاریخ ١٤ جوزا مسکو اعلان نمود که یکی از مناطق مربوطه اش مورد بمباردمان طیاره ناشناسی قرارگرفته که باعث کشته شدن چهارنفر گردیده است.

یك شب بعد رژیم مزبور کابل مسولیت این عمل را بدوش گرفت ، نجیب در مقابل این عمل ازگرباچف منشی حزب کمونست روسیه و همتای بخارایی خود (قهارمحکموف) رئیس دست نشانده روسها دربخارا معذرت خواست وگفت : رژیم کابل حاضر است تا غرامت این عمل زشت رابه حکومت روسیه بپردازد .

این درحالی است که روسها همه کشور عزیز ما را ازمیان برده وبه ویرانه مبدل ساخته اند ، وتاهمین اکنون بمباردمان های شان برقراء وقصبات وطن ماجریان دارد درحالیکه نجیب ودارودسته اش این عمل روسها را تمجید وتحسین می نمایند!!!

۱۷ جوزا- صدای امریکا :

صدراعظم پاکستان اقای نواز شریف خواهان تشکیل کنفرانس صلح شده است که دران نمایندگان کشورهای روسیه ، امریکا ، چین، هند و پاکستان اشتراك داشته باشند. کار این کنفراس جلوگیری از مسابقات اتومی در اسیای جنوبی خواهد بود .

*** ***

طیارات جیت اسرائیل هفته گذشته سه بار کمپ های مهاجرین فلسطینی درلبنان رادمورد بمباردمان قراردادند طی ان ۱۹ نفر فلسطینی شهید گردید .

۱۸جوزا- تلویزیون پاکستان :

در اثر تصادم دوریل درمنطقه سکرپاکستان بیش از ٥٠ نفر کشته ودرحدود ٥٠٠ تن دیگر مجروح گردیدند این سومین واقعه دلخراش تصادم ریل در تاریخ پاکستان می باشد .

۲۰ جوزا - صدای امریکا :

ملك فهد پادشاه سعودی برای مدت مختصری وارد خاك کویت گردید وباامیر کویت ملاقات نمود. این اولین سفروی بخارج سعودی بعد از بحران خلیج میباشد .

*** ***

دکتور کورت والدهایم رئیس جمهور اتریش که زمانی هم سرمنشی موسسه ملل متحد بود وارد تهران گردیده تابا مقامات ایرانی مذاکره نماید .

این اولین سفر یك رئیس حکومت غربی به تهران بعد از پیروزی انقلاب اسلامی میباشد .

۲۱ جوزا ، جریده المستقبل عدد ٤٦:

وزیر داخله مصر اقای محمد عبدالحلیم موسی اظهارداشته است که متهمین قضایای سیاسی درمصر با مجاهدین افغان یکجا می شوند. وی به سازمان (الجهاد) اشاره نموده گفت: اکثر اعضای ان اکنون درجهاد افغانستان اشتراك دارند انها درافغانستان تعلیمات نظامی را فراگرفته ؛ دوباره وارد مصرمی گردند ودست به عملیات برعلیه حکومت می زنند .

۲۲ جوزا، صدای امریکا :

وزیر اعلای صوبه سند پاکستان جام صادق علی دریك کنفراس مطبوعاتی اعلام داشت که حکومت ایالتی وی موفق به دستگیری شش نفر گردیده است که مامور قتل رئیس دولت و صدراعظم پاکستان گردیده بودند . وی گفت این اشخاص مربوط حزب مردم برهبری خانم بوتو می باشند که درهند تعلیمات نظامی راکسب نموده اند.

*** ***

طارق عزیز معاون صدراعظم عراق وارد ترکیه شده است این اولین سفروی به یکی ازبلاك های پیمان ناتو پس از جنگ خلیج میباشد .

*** ***

جنرال محمد ارشاد رئیس سابق حکومت بنگله دیش دریکی از محکمه های ان کشور محکوم به ده سال حبس گردید. وی متهم به نگهداشت اسلحه غیر قانونی وسوء استفاده از قدرت میباشد. جنرال ارشاد اکنون ٦١ سال عمر دارد .

٢٤جوزا ، صدای امریکا :

رسانه های دولتی عراق به حکومت ایران خبر داده اند تا از دروغ پراگنی برعلیه عراق بپرهیزند. چند روز قبل ایران گفته بود که عراقیان درپی قتل وشکنجه شیعیان ان کشور گردیده اند. موسسه ملل متحد نیز چنین عملیاتی را تکذیب نموده است .

*** ***

درجمهوری فدراسیون روسیه بتاریخ دوازدهم جون همه پرسی صورت گرفت . ١٠٤ ملیون نفر بپای صندوق های رای رفتند. بعد از رای شماری نتیجه انتخابات به پیروزی بوریس یالتسن تمام شد وی توانست شصت درصد ارامردم را بدست اورد. بدین ترتیب حریف وي رشکوف که پانزده درصداراء مردم رابدست اورده است دردرجه دوم قرار گرفت .

٢٥ جوزا – روزنامه جنگ :

مجلس سنای امریکا باالکثریت ارا فیصله نمود تامساعدت های خود برای حکومت هند رانیز معطل سازد. توقف کمك تا وقتی جریان خواهد داشت که امریکا از ناحیه تولید اسلحه اتومی هند مطمئن گردد.

بدین ترتیب هند وپاکستان سوار یك کشتی گردیدند .

٢٦ جوزا – صدای امریکا :

گرباچف، منشی حزب کمونست روسیه درخواست انگلستان مبنی بر اشتراك وی در کنفراس هفت کشور صنعتی اروپایی راکه،درماه اینده بر گزار می شود پذیرفته است.

*** ***

صدراعظم ترکیه اقای یلدارام اگ بلوت از مقام خویش مستعفی گردید ، رئیس حکومت ترکیه تورگورت اوزال استعفای وی راپذیرفت. یلدارام وقتی مجبور به استعفا گردید که از ریاست (حزب وطن) برکنار گردید. یکی از علل برکناری وی از ریاست حزب ندانستن زبان خارجی بود .

*** ***

اقای رحمت الله مرتضوی باشش تن دیگر ازنمایندگان تنظیم های مقیم ایران وارد پاکستان گردیده اند تا در باره حل مسله افغانستان بامنظمات مجاهدین مقیم پشاور مذاکره نمایند. ورود انها پس از رفتن هیئت بلند پایه حکومت پاکستان ورفتن چهار تن از جمله رهبران جهادی به تهران صورت میگیرد. البته این اولین بارخواهد بود که همه گروه های مجاهدین اعم از شیعه وسنی وگروهای کوچك وبزرگ دورهم یکجاجمع می شوند ، مولوی خالص درین مذاکرات شرکت نورزیده است .

٢٧ جوزا :

اتشفشان اخیر فلیپین که از مدت یك هفته بدینسو جریان دارد واکثر مردم رامجبور به ترك منازل شان گردانیده است ، بالاخره قوای امریکایی مستقر درفلیپین رانیز مجبور به ترك ان کشور ساخت و در حدود ٧٠٠٠ تن از عساکر امریکایی بخاك خویش بر گشتند .

۲۷ جوزا – صدای امریکا :
اخرین قطار قوای روسی دیروز ازخاك هنگری بیرون شد. وبدین ترتیب تجاوز ٤٦ ساله روسهابر ان کشور خاتمه یافت .

۲۸ جوزا– بی ، بی ، سی :
استاد سیاف طی یك نامه ای که بمقامات حکومت پاکستان فرستاده از انها تقاضانموده است تا طرح اخیر موسسه ملل متحد در قبال مسله افغانستان را نپذیرند ، واگر قادر به انجام چنین کاری نیستند حد اقل اجازه ندهند تا از خاك شان چنین طرحی مورد اجرا قرار داده شود .

۲۹ جوزا – صدای امریکا:
حجاج ایرانی درمراسم حج امسال با اخذ اجازه از مقامات سعودی دست به برپایی مظاهرات ارام و مسالمت امیز زدند. انها شعار های مرگ بر امریکا ومرگ بر اسرائیل را سردادند. حکومت ایران از اعطای فرصت حکومت سعودی بخاطر مظاهره حجاج ایرانی ابراز امتنان نموده است .

۳۰ جوزا – تلویزیون پاکستان :
اقای ناراسمهاراوبحیث رهبر پارلمانی حزب کانگریس هند تعیین شد ، حزب کانگریس هند در انتخابات اخیر ان کشور از (٥١١) کرسی پارلمان (۲۳۷)کرسی را بدست اورده است. وباید ۱۹ کرسی دیگر را نیز ضمیمه خویش بسازد تا قادر به تشکیل حکومت گردد.
سمهاراو فردا حلف مقام صدارت رابجا خواهد اورد .

*** ***

مقامات حکومت المان تصمیم گرفته اند تا پایتخت المان رادوباره به شهر برلین انتقال بدهند ، قبل از جنگ جهانی دوم برلین پایتخت المان متحد بود .

*** ***

ببرك کارمل بعد از سپری نمودن پنج سال حبس درروسیه دوباره به افغانستان فرستاده شد. ببرك ازجمله نوکران سرشناس کریملین می باشد وی درسال ۱۹۸٦ توسط روسها از مقامش (ریاست حزب وحکومت)عزل وبه عوض وی نجیب که دران وقت سردمدار سازمان جهنمی خاد بود رئیس حزب و حکومت گردانیده شد .
کارمل مسول دعوت قوای روسی به افغانستان می باشد. تا هنوز علت فرستادن وی به افغانستان واضح نشده است .

*** ***

روسیه تصمیم دارد تادرصورت بهتر شدن روابطش بااسرائیل بهترین نوع جیت های خود را به ان کشور بفرستد ،این مطلب را وزیر صنایع روسیه در ملاقات خویش با موشی ارن صدراعظم اسرائیل اظهار داشته است .

۳۱ جوزا :
طبق پیام مخابروی محترم احمد شاه مسعود مجاهدین قهرمان افغان دوباره کنترول شهر خواجه غار رابدست اوردند .
خواجه غار چندی قبل ازاد شده بود ، ولی حملات وحشیانه هوایی وموشکی رژیم مجاهدین را مجبور به عقب نشینی موقتی گردانیده بود ، واینك باردوم ان شهر بتصرف مجاهدین درامد.

اېدي ژوندي

شهید امان گل

شهید امان گل دملامجنون زوی په ۱۳۴۲ هـ ش کال دلوگر ولایت دازری ولسوالی دسیلم خیلو دبیرو په کلی کې زیریدلی په قوم احمد زی ؤ .

نوموړی په ۱۳۶۱ هـ ش کال دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی دي.

دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۳/۱۱ نیته دگردیز دسراورې په سیمه کې ددښمن دماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید حاجی شیردین

شهید حاجی شیردین دشمردین زوی په ۱۳۲۰ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویې ولسوالی دعلیشیرو په علاقه دارۍ کې زیریدلی اوپه قوم ځدران ؤ .

نوموړی په افغانستان کې دثور دکودتاپه کیدو سره هم دپاکستان اسلامی هیواد ته هجرت کړی اودهجرت څخه وروسته یی دوسله وال جهاد په دوران کې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

دغه مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۱ نیته دباک ، کوکارک بابا پوستواو یعقوبیو علاقه دارۍ دفتحه کولو وروسته دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهیدعبدالرحمن

شهید عبدالرحمن دصالح الدین زوی په ۱۳۴۰ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویې ولسوالی دلکنو دخرخینو په کلی کې زیریدلی ؤ .

نوموړی په افغانستان کې دثور کودتادکیدو سره سم په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

دغه نومیالی مجاهد دخوست دفتحې په عملیاتو کې په ۱۳۷۰/۱/۸ نیته دنوی هوایی ډگرترفتحه کیدو وروسته دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

شهید محمد قاسم

شهید محمد قاسم دخان زوی په ۱۳۴۳ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست ولسوالۍ ددلپوری په کلي کې زیږیدلی اوپه قوم اسماعیل خیل ؤ .

نوموړی دسلمان فارسی (رض) دغونډ یوتکړه مجاهد ؤ اودجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی .

دغه زړور مجاهد دخوست دتاریخی فتحی څخه یوه ورځ رومبی په ۱۳۷۰/۱/۱۰ نیټه دخوست زوړ هوایی ډگر سره نږدی دعمرکلی پوستی باندی دحملی په وخت ددښمن سره په مخامخ جگړه کې دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله واناالیه راجعون

شهید دیرشاه

شهید ډیرشاه دلنډی زوی دپکتیکا ولایت دارگون ولسوالۍ دبری خیلو کلي اوسیدونکی اوپه قوم ځدراڼ ؤ.

نوموړی په ۱۳۶۷/۵/۸ نیټه دسلمان فارسی (رض) په غونډ کې شامل شوی اودجهاد په دوران کې یې کمونستانو ته زیات ځانی اومالی تاونونه وراړولی .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۷۰/۱/۳ نیټه دزرخان پوستی باندی دحملی په وخت ددښمن دماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړمقام ته ورسید .

انا لله وانا الیه راجعون

شهید طالب العلم سلام الدین

شهیدسلام الدین دملاخیال بدین زوی دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی دیعقوبیو علاقه داری دزمبر کلی اوسیدونکی او په قوم صبری ؤ .

نوموړی دحمایة المجاهدین په دینی مدرسه کې زده کړی سرته رسولی اوپه ۱۳۶۳ هـ ش کال یې دکمونستانو په مقابل کې په وسله وال جهاد پیل کړی .

چی دجهاد په دوران کې یې دهری حکومت ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

بالاخره دغه نومیالی مجاهد په ۱۳۶۹/۱۰/۶ نیټه دعلی شیرو په سیمه کې ددښمن دټانك په گولی ټپی شو اودهمدغو ټپونو له امله په ۱۳۶۹/۱۱/۱۰ نیټه دشهادت لوړمقام ته ورسید.

انا لله وانا الیه راجعون

شهید قوماندان انجینر محمد امین

شهید محمد امین دسیدرحمن زوی په ۱۳۳۸ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست ولسوالی دلکنو ملایانو په کلی کې زیږیدلی ؤ .
نوموړی لومړنی زده کړې دلکنو په ښوونځی اودلیسی دوره یی دکابل دابن سینا په لیسه کې پای ته رسولی وه هغه دښه استعداد اوپوهی له امله دکابل پوهنتون دساینس پوهنځی دجیولوجی په څانګه کی شامل شو ، په دغه پوهنځی کی دزده کړې په جریان کې دثور دکودتا په رامنځته کیدو سره نوموړی زندانی شودیوڅه وخت زندان تیرولو څخه وروسته دبند څخه خلاص اوسمدستی یی په وسله وال جهاد پیل وکړپه جهاد کې دډیری زړورتیا له امله دقوماندان په توکه وټاکل شو .
بالاخره په ۱۳۷۰/۱/۸ نیټه په خوست باندی دعمومی عملیاتو په وخت دخوست په نوی هوایی ډګرکې دکمونستانو سره په یوه مخامخ جګړه کې دشهادت لوړمقام ته ورسید .
انالله وانا الیه راجعون

شهید میرم ګل

شهید میرم ګل دمموز خیل زوی په ۱۳۵۰ هـ ش کال دپکتیا ولایت دځاځیو ولسوالی دحسن خیلو په کلی کې زیږیدلی ؤ .
نوموړی ابوجندل (رض) دغونډ یوتکړه مجاهد او دجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه ور-اړولی دي .
دغه نومیالی مجاهد دخوست دفتحی په عملیاتو کې په ۱۳٦۹/۱۲/۲۸ نیټه دخوست په زاړه هوایی ډګرکې ددښمن سره په یوه مخامخ جګړه کې دشهادت لوړ مقام ته ورسید.
انالله وانا الیه راجعون

شهید تور

شهید تور دزیړ زوی په ۱۳٤۸ هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی دبنګی دار په کلی کې زیږیدلی ، په قوم کوچی ؤ .
نوموړی زړور مجاهد په افغانستان کې دثورکودتاپه کیدو سره سم دکمونستانو په مقابل کې په وسله وال جهاد پیل کړی اودجهاد په دوران کې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .
دغه نامتو مجاهد دخوست په عمومی عملیاتو کې په ۱۳۷۰/۱/۱۱ نیټه دزوړ هوایی ډګر دفتحه کیدو وروسته دشهادت لوړ مقام ته ورسید.
انالله وانا الیه راجعون

شهید خان

شهید خان دپاینده خان زوی په ۱۳٤۲ هــ ش کال دلوگر ولایت دارزی ولسوالی دخوشحال خیلو دببر په کلی کې زیږیدلی ؤ .

دغه زړور مجاهد دثور دکودتا څخه وروسته دکمونستانو په مقابل کې په وسله وال جهاد پیل کړی اوجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانوته زیات ځانی اومالی تاوانونه ور اړولی .

دغه نومیالي مجاهد په ۱۳۷۰/۳/۱۱ نیټه دګردیز دسراوړی په سیمه کی ددښمن دماین دچاودیدو له امله دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید بخملی خان

شهید بخملی خان دولی محمد زوی په ۱۳۵۰هـ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی دلکنو دخرښینو په کلی کې زیږیدلی ؤ .

دغه زړورمجاهد دثور کودتا څخه وروسته په وسله وال جهاد پیل کړی اوجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی او مالی تاوانونه وراړولی دي .

نوموړی دخوست په عمومی عملیاتو کې په ۱۳۷۰/۱/۸ نیټه دخوست دنوی هوایی ډګردفتحی کولو وروسته دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

انالله وانا الیه راجعون

شهید محمد نور

شهید محمد نور دمحمد مخاص زوی په ۱۳۳۵ هــ ش کال دپکتیا ولایت دخوست دلویی ولسوالی دلکنو دخرښینو په کلی کې زیږیدلی ؤ.

نوموړی په افغانستان کی دثور کودتا کیدو سره سم دپاکستان اسلامی هیواد ته هجرت کړی اودهجرت وروسته یې دکمونستانو په مقابل کی په وسله وال جهاد پیل کړی اوجهاد په دوران کې یې ددین او وطن دښمنانو ته زیات ځانی اومالی تاوانونه وراړولی .

دغه نومیالی مجاهد دخوست په عمومی عملیاتو کې په ۱۳۷۰/۱/۸ نیټه دخوست نوی هوایی ډګرکې دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

انالله وانا الیه راجعون

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشادنبوي

بشنويد واطاعت نمايد ازاوامر ان كس،كه اگرمقرر شود برشما حبشي سياه كه سرش به اندازه يك كشمش باشد .

روا ه ابوداود وترمذي

ميديا